# الرساله

(اکتوبر - ۱۹۷٦)

**مسوول مدیر:** مولانا وحید الدین خان رحمه‌الله

**ایډیټر:** ظفر الاسلام خان

**پښتو ژباړه:** رحمت شاه فراز

**پښتو ګڼه:** لومړۍ

**د خپرېدو نېټه:** جنوري، ۲۰۲۵ز

## لیکلړ

د هر غروب لپاره نوی طلوع ټاکلی دی!.......۳
د الرساله موخه تعمیري او اصلاحي ذهن روزل
ده.........................................۳
د مسلمان رهبري تېروتنه...................٤
روژه په ژوند کې د ډلو څلو درس دی..........٥
یوه کیسه....................................٦
د هغوی مقصد لار ورکو ته د الله تعالی لاره ور
ښودل و .......................................۷
د هغوی مقصد خلک له دوزخ نه جنت ته رسول
و..............................................۷
مولانا سید حسین احمد مدني رحمه‌الله..........۷
د نورو لپاره کم تلل او د ځان لپاره پوره تلل....۹
داسې خوندور ځیزونه له خدای سره چېرته شته
دي؟..........................................۱۱
یو بریالی انسان چې د مرګ دروازې ته ورسېږي،
نو هله دا احساس ورته ودرېږي، چې د دروازې
بل پلو ته له مایوسي او بربادي پرته څه نشته ۱۳
روژه ........................................۱٤
د [illegible]
پیل له [illegible]
د صحابوو د دور مدرسې......................۲٤
اصلي کار د قرآني علومو احیاء ده...........۲۷
څو معاصرین..................................۲۷
همان ورق که سیه گشته مدعا این جا است ۲۸
ټوکه.........................................۳۰
نوې نړۍ......................................۳۱
ناسم ګام هېڅ کله سمې پایلې ته نه رسېږي؛ که
د دې ګام اخیستونکی ډېر مخلص او مقدس
انسان هم وي...............................۳٤
یوه پرتلنه..................................۳٦
شاته تګ هم کله نا کله لوی اقدام وي، خو پر
دې یوازې د لویو زړونو خاوندان پوهېږي.....۳۷
د کتاب نړۍ.................................٤۰
اسلام یو نوی څواک ور پېرزو کړ............٤۳
دا بریا یوازې د جذباتي اقدام پایله نه وه، دا بریا
د سنجول شوي پلان په مټ ترلاسه شوه......٤٦
د اختلاف زیان تر کومه رسېږي.............٤۸
د پند شېبې.................................٥۰
دلته یوه بله مخفي دنیا ده چې زموږ له نړۍ سره
متوازي وجود لري..........................٥۲
او د اصلاح جذبې چې په سیاسي ارادو بدلې
شي..........................................٥۷
کاڼي شوې ونې..............................٦۰
د ژوند لویه برخه یې د سیاست قرباني شوه، په
و[illegible] غوښتل، خو
[illegible] نوی و.......٦۱
په طرابلس کې وینا.........................٦٥
یو درس له تاریخه..........................٦۸
یوه نیمه پېړۍ مخکې.......................٦۹
یو سفر.....................................۷۰
شها ب ثاقب................................۸۲
بلاغت څه دی؟..............................۸٤

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرساله

(اکتوبر - ۱۹۷٦)

پښتو ګڼه: لومړی، جنوري ۲۰۲۵ز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هر غروب لپاره نوی طلوع ټاکلی دی!

لمر په لویدیځ کې لوېږي، تر څو له ختیځ نه بېرته له نوي شان سره را پورته شي. دا یوه روښانه نښه ده، چې هره ورځ په اسمان کې را څرګندېږي او دا پیغام راکوي، چې خدای د خپل سلطنت نظام څرنګه جوړ کړی دی. دا د دې حقیقت کایناتي اعلان دی، چې د خدای په دنیا کې هېڅ «لوېدنه» وروستۍ نه ده. د هر غروب لپاره نوی طلوع ټاکلی دی. یوازنی شرط یې دا دی، چې انسان له حوصلې برخمن وي، له لوېدو وروسته له نوي سره د هلو ځلو پلان جوړ کړي او د ژوند په لویه لاره خپل سفر یو ځل بیا پیل کړي.

# د الرساله موخه تعمیري او اصلاحي ذهن روزل ده

په لنډو کې زموږ موخه «د اسلام پېژندنه» ده. مسلمانان، د نبوت له ختمېدو وروسته، د نبوت ځایناستي دي. مسلمانان به په اوسنۍ زمانه کې د الهي پیغام د رسولو هماغه دنده سرته رسوي، چې په تېرو زمانو کې نبیانو ترسره کړې ده. الله تعالی له دې امله د پیغام رسوني چاره کړې ده، چې د قیامت په ورځ څوک ونه وایي، چې موږ په داسې خبره کې نیول کېږو، چې په هغه اړوند موږ ته اصلاً څه نه دي را ښودل شوي. د دې معنا دا ده، چې که موږ نور خلک د خدای له خوښې نه خبر نه کړو، نو له نورو مخکې به لومړی موږ نیول کېږو چې ولې مو خپله را سپارلې وجیبه نه ده په ځای کړې. دا دومره درنه خبره ده، چې په دې مسؤلیت کې تر غفلت وروسته یوه شخصي کړنه هم مسلمانان د خدای په نزد نه شي ژغورلی.

مګر مسلمانانو نه یوازې نورو قومونو ته د اسلام د پیغام رسوني دنده سرته نه ده رسولې، بلکې په خپل عمل سره یې اسلام اپوټه معرفي کړی دی، له تېرې یوې نیمې پېړۍ نه چې کوم غورځنګونه په اسلامي نړۍ کې را پورته شوي دي، د هغو پایله دا ده، چې اوسمهال الهي حکومتولي، بېل هویت، مناظره بازي، سیاسي محاذونه او د خپلو حقونو لپاره چیغې د خلکو په سترګو کې د اسلام انځور ګرځېدلی دی. حال دا چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن کريم اسلام له دې يوه شي سره هم تعلق نه نيسي. د قرآن کريم اسلام خو يوازې دا دی، چې: انسان له خپل بادار نه وويرېږي، له دې احساس سره ژوند وکړي، چې له مرگ وروسته به خدای ته حساب ته ورکوي – اسلام د دې لپاره راغلی و، چې انسانانو د اخرت مسايلو ته متوجه کړي، خو موږ اسلام ته دنيوي مسايلو ته د متوجه کېدو نوم ورکړ.

مسلمانان د دعوتگر په توگه را پورته کول، د اسلامي ملت مهم‌ترينه مسئله ده. د دې مسؤليت د پرېښودو له کبله مسلمان ملت د خدای له نصرت نه بې برخې شوی دی او دې مسؤليت ته غاړه ورکول هغه يوازنۍ لاره ده، چې د خدای د نصرتونه مستحق گرځېدلی شي.

الرساله تجارتي مجله نه ده، دا خو د رغونې او د اسلام د احياء تبليغاتي رسالت دی. د الرساله بقا او اغېزناکتيا په دې پورې تړلې ده، چې تاسو يې خپله وظيفه وگڼئ او تر وسه وسه مرسته ورسره وکړئ.

د اسلامي امت د راتلونکي د سمولو لپاره يوې نوې هڅې ته اړتيا ده. الرساله د همدې هڅې سرليک دی.

## د مسلمان رهبري تېروتنه

په اوسنۍ زمانه کې د مسلمانانو رهبري تر ټولو ناکامه رهبري وه. د دې وجه دا تېروتنه وه، چې يادې رهبرۍ د مسلمانانو راتلونکی د تعمير او رغونې په ځای په سياست کې لټاوه. د سياست بازي معنا دا ده، چې د خپلو ستونزو د حل لپاره د نورو په خلاف اقدام وشي. حال دا چې رغونه دا ده، چې د خپلو مسايلو لپاره په خپل ځان کار وشي.

اصلي کار دا و، چې ملت داسې وروزل شي، چې د خلکو عقيدې کلکې شي، له اخلاقي څواک نه برخمن شي، د تعليم په ډگر کې لوړ مقام ته ورسېږي، خپل منځي يووالی ولري، په اقتصادي ډگرونو کې يې ځانته ځای جوړ کړی وي، د ټولنيز پرمختگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري په کې فعالیت ولري، خپل عصر وپېژني او له خپل عصر سره سم د کار کولو په هنر پوه وي. او بیا ډېره مهمه دا چې په مسلمانانو کې هغه شعور وروزل شي، چې د مفکوره لرونکو وګړو په حیث د خلکو په منځ کې ژوند وکړي. پر همدې ټکو د یوه قوم د ژوند دار و مدار وي. مګر مسلمانانو د نورو په ضد سیاسي غوغاوې خو ډېرې وکړې خو د خپلې ځان جوړونې لپاره یې هېڅ هم ونه وکړل.

بل ساده توب یې دا و، چې په سیاست بازي کې یې چې بریا ونه لیدله، نو اوس یې یوه بله لاره خپله کړې او د خپلې ناکامي پړه په نورو خلکو ور اچوي. حال دا چې په دې ډول خبرو دوی یوازې د قرآن کریم د دې خبرې پخلی کوي، چې دوی د طیبي کلمې ونه نه وه کرلې، بلکې د خبیثې کلمې تخم یې شیندلی و. په دې چې د طیبې کلمې لپاره د خدای اعلان دا دی، چې هېڅ ځوک یې نه شي نړولی. دا انجام یوازې د خبیثې کلمې لپاره ټاکلی دی، چې هر ځوک لاس ور وړاندې کړي، له بېخه یې ویستلی شي.

(ابراهیم)

# روژه په ژوند کې د هلو ځلو درس دی

د روژې میاشت د انسان لپاره له خپل نفس او خواهشاتو سره د مبارزې میاشت ده. دا هغه میاشت ده، چې مؤمن پر شیطاني ځواکونو برلاسیتیا مومي او د خدای د بندګۍ له هوډ سره یو ځل بیا نوی کال ته هرکلی وايي. خو عجیبه خبره ده، چې د روحاني مبارزې دغه میاشت د اسلام په تاریخ کې د نظامي مبارزې میاشت هم پاتې شوې ده. د اسلام او غیر اسلام ترمنځ ګڼ تاریخي کشمکشونه په همدې مبارکه میاشت کې پېښ شوي دي. مثلاً:

د بدر غزوه (۶۲۴ء) چې پیغمبر او ملګرو یې پر قریشو پرېکنده فتحه وموندله.

د مکې فتح (۶۳۰ء) چې په ټوله عربي نړۍ یې اسلام غالب کړ.

د تبوک غزوه (۶۳۳) چې پر رومیانو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام زور او ځواک ثابت کړ. (په رجب کې

پیل او رمضان کې یې پای ومونده)

د عین جالوت جگړه (۱۲٦۰) چې تاتاریانو ماتې وخوړه او د بغداد اسلامي سلطنت را ژوندی شو.

مصر – اسرائیل جنگ (۱۹۷۳) چې د سویز کانال او سینا صحرا د تېلو چینې یې بېرته د مصر په واک کې ورکړې.

دا پېښې را ښيي، چې روژه او د ژوند په هلو ځلو کې هېڅ ټکر وجود نه لري. د روژې لوږه او تنده انسان کمزوری کوي نه، بلکې دا ورته ورښيي، چې د ژوند په کشمکشونو کې په لا ډېرې زړورتیا او مېړانې سره برخه واخلي.

## یوه کیسه

ابوبکر بن عباس خوارزمي (۳۲۳ – ۳۸۳ هـ) د خپلې ځیرکتیا او حافظې لپاره ډېر زیات مشهور و. ویل کېږي، چې ابوبکر د ارجان وزیر صاحب بن عباد لیدو ته ورغی. دروازې ته چې ورسېده، ساتونکی دننه لاړ او صاحب بن عباد ته یې وویل، چې یو ادیب راغلی، له تاسې سره د ملاقات اجازه غواړي. وزیر وویل، چې ورته ووایه «ما پرېکړه کړې ده، چې زما خواته به یو ادیب تر هغو نه راځي، چې د عربو ۲۰ زره شعرونه یې په یادو نه وي زده کړي.» خوارزمي چې دا خبره واورېده، نو ساتونکي ته یې وویل، ورشه! پوښتنه ترې وکړه، چې شل زره شعرونه د نارینه شاعرانو که د ښځينه شاعرانو.

وزیر د دې خبرې په اورېدو نرم شو. ویې ویل «دا ابوبکر خوارزمي ښکاري» او سملاسي یې دننه وغوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هغوی مقصد لار ورکو ته د الله تعالی لاره ور ښودل و

# د هغوی مقصد خلک له دوزخ نه جنت ته رسول و

نبي کریمﷺ، حضرت علي د خيبر د فتحې لپاره استاوه. حضرت علي رضي الله عنه وپوښتل: اې د الله رسوله! آیا سملاسي جګړه پیل کړم؟ نبي کریمﷺ وفرمایل: هلته چې ورسېدې، خلک د لا اله الا الله په لور دعوت کړه. که يې ونه منله، نو بيا دوهمه او د جګړې لاره خپله کړه. «لان يهدی الله منک رجلا خير لک من الدنيا و ما فيها». په دې چې که ستا په لاس يوه انسان ته هم الله تعالی نېغه لاره وښودله، نو دا ستا لپاره له ټولې دنيا نه ډېره غوره ده. په بل روايت کې راغلي دي، چې له ځوانو اوښانو نه هم بهتره ده.

## مولانا سید حسین احمد مدني رحمه الله

د نبي کریمﷺ له وفات وروسته صحابه کرام رضي الله عنهم ولې له عربي نړۍ نه ووتل؟ عراق ته ورسېدل، د شام، ایران، افغانستان، سند او د هند تر لرې، لرې ایالتونو يې ځانونو ورسول. ولې تر دې سیمو لاړل؟ د هغوی مقصد څه و؟ آیا د ملکونو سوبه يې غوښتله؟ آیا شتمنی يې لټولې؟ هېڅ کله نه. د هغوی اصلي مقصد یوازې د لا اله الا الله په لور خلکو دعوتول و. نړۍ رښتیني دین ته رابلل و. د خدای لار ورکي بندګان الله تعالی ته ور نیژدې کول او له دوزخ نه يې جنت ته رسول و. وروستنيو مسلمانانو ساده توب وکړ، د دنيا شا يې ونیوله.

تاریخ شاهد دی، چې هند ته له بهر نه د راغلیو مسلمانانو شمېر څلور یا پنځه سوه زره و، خو د هند د وېش پر مهال شاوخوا لس کروړه او پنځه ویشت لکه کسان مسلمانان شوي وو.

زموږ اسلافو او اولیاوو د دین په تبليغ کې ډېرې زیاتې هلې ځلې وکړې. انګرېز لیکوال سمت لیکي، چې د حضرت خواجه معین الدين چشتي رحمه الله په مبارک لاس نوي لکه خلک مسلمانان شوو. له ده سره څه و؟ آيا پوځ ورسره و؟ یوازې د الله تعالی د معرفت خزانه ورسره وه. هر ځای چې د الله تعالی نېک بندګان تېر شوي، د دين تبليغ يې کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. د ترکیې په تاریخ کې مې ولوستل، چې د ترک قوم درې لکه کورنۍ په یوه ورځ مسلمانې شوې. د الله تعالی فضل دی، چې د تبلیغ هغو هغه میوه ورکړه، چې په یوه زمانه کې ځینو واکمنو د تدبیر له مخې هغه کوله، چې خپل رعیت له مسلمانېدو را وګرځوي. په ۱۰۰ھ کې د عمر بن عبدالعزیز په زمانه کې د خراسان حاکم دا خطر احساس کړ، چې د جزیې د بندېدو له امله به بیت المال خالي شي. نو اعلان یې وکړ، چې له یوه کس نه دې هم اسلام تر هغو نه منل کېږي، چې سنت شوی نه وي. د عمر خوړلیو لپاره دا مسئله د تکلیف باعث وه. له دې امر سره سم د اسلام پرمختګ ودرېده. خلیفه ته خبر را ورسېده، چې د خراسان والي پر اسلام بندیز لګولی دی، نو والي یې له دندې ګوښه کړ او بل کس یې وګماره. او ویې ویل: آیا نبي کریمﷺ د دې لپاره راغلی و، چې پر دې ډول خبرو د اسلام مخه ونیول شي؟

زموږ د اسلافو په هڅو، د اهل الله علماوو او عامو مسلمانو په هلو ځلو سره لس کروړه او پنځه ویشت لکه انسانان مسلمانان شوو. که وروستنیو تېروتنه نه وای کړې، نو د هېواد لویه برخه به مسلمانه شوې وه.

(c) ketabton.com : The Digital Library



# د نورو لپاره کم تلل او

# د ځان لپاره پوره تلل

زه مو (نن) په ښه حال ګورم او زه پر تاسو د چاپېرېدونکې ورځې له عذابه وېرېږم(هود - ۸۴)
دا پیغمبرانه اواز د حضرت شعیبعلیه‌السلام و، چې ۳۵۰۰ کاله پخوا یې د مدین خلکو ته رسولی و.

مدین، په لرغوني عربي نړۍ کې د سره سیند په غاړه یو ښار و. د حضرت ابراهیم (۱۹۸۵ – ۲۱۶۰ ق م) له مېرمنې قطوره نه د «مدین» په نوم یو ماشوم نړۍ ته راغی. په لومړیو کې د همدې مدین پښتونه دلته مېشت شوو او ښار هم د ده په نوم ونومول شو. د همدې مدین له نسل نه، له حضرت ابراهیم نه شاوخوا پنځه سوه کاله وروسته، حضرت شعیب نړۍ ته راغی. په دې وخت کې د مدین قوم ډېر بې لارې شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی حضرت شعیب ته پیغمبري ورکړه او دا دنده یې ور وسپارله، چې د حضرت ابرهیم بې لاري اولادې ته د حق پیغام ور ورسوي. د مدین قوم بې لاریتوب څه و، چې ورته ووېل شوو، چې نن تاسې په خپل حال مه خوشالېږئ، په دې چې ستاسو لپاره په راتلونکي کې د سخت عذاب اندېښنه راسره ده. د قرآن کریم له مخې د دوی ګناه دا وه، چې تول او پیمانه به یې پوره نه کوله او خلکو ته به یې کمه پیمانه ورکوله. (اعراف – ۸۵)

دغه اخلاقي مرض د قرآن کریم په یوه بله برخه کې په دې ټکو کې بیان شوی دی: «ډنده وهونکو لره تباهي ده، هغه کسان چې ځان ته یې پر خلکو پیمانه کوي نو پوره یې اخلي، او چې هغوی ته پیمانه یا تول کوي نو کم ورکوي، ایا دوی باور نه کوي چې هغوی راپاڅېدونکي دي، یوې سترې ورځې ته، هغه ورځ چې (ټول) خلك رب العالمین ته ودرېږي. (المطففین)

«د ځان لپاره پوره تول کول او نورو ته په تول کې کمی کول.» د دې یو مثال هغه دی، چې په دوکانونو کې مو تر سترګو کېږي.

دوکاندار چې د ځان لپاره پیمانه یا تول کوي، نو د ډېرې پیمانې د ترلاسې هڅه کوي او نورو ته چې تول کوي، نو زړه یې غواړي، چې په یوه نه یوه لاره کمی پکې وکړي، یا د کمې پیمانې او کم تول له لارې او یا د ملاوټ او د ښودلې نمونې په ځای د بل شي د تېرولو له لارې. دا کس د خدای په نزد ملعون دی او تږوله ګټه یې حرامه ده. د خپلو درغلیو له لارې چې په خپل تجارت کې هر څومره ګټه وکړي، خو د اخرت په ورځ به په ډېره زیاته خساره کې وي.

خو دغه ذهنیت یوازې تر دوکانداري پورې نه ایسارېږي، بلکې د انساني اړیکو له ټولو اړخونو سره تعلق نیسي. د روح المعاني لیکوال لیکلي دي، چې «هغه عالم چې د خپل عصر د علماوو عزت او درناوی نه کوي، هغه هم د دې آیت په دایره کې راځي.» پر همدې مثال هغه ټول حالتونه قیاس کولی شو، چې کله یو انسان د ځان لپاره خو تر خپل اصلي حق نه هم د ډېرو تمه لري خو نورو ته بیا د هغوی ټاکلی حق هم نه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داسې خوندور څيزونه له خدای سره چېرته شته دي؟

د نوې دهلي په نړيواله صنعتي جشنواره (١٩٦١) کې يو امريکايي موټر هم ننداري ته وړاندې شوی و. د موټر ځانګړتيا دا وه، چې په ځمکه هم چلېده او چې سرعت به يې په يوه ساعت کې شپېته ميله ته نږدې شو، نو په هوا کې هم الوتلی شوی. يوه ځوان هندي راهب چې د جشنوارې رنګارنګ عجوبې او رنګينی وليدې، نو په ننداري کې امريکايي برخې ته ورغی. ده چې جادويي الوتونکی موټر وليده، په ذهن کې يې نوې پوښتنه را ولاړه شوه. ځان سره يې وويل: «که زه د رهبانيت او زحمتونو اوسنی ژوند پرېږدم، نو ايا په مادي وسايلو کې به د خپلو جذباتو تسکين ته ورسېږم؟ په نارنجي جامو او ببرو وېښتانو کې ولاړ ځوان راهب تر ډېره پورې امريکايي موټر ته څير و. په ننداړتون کې يې دې موټر ته د «راتلونکي موټر» نوم ورکړی و. له ځوان راهب نه چې د دې موټر په هکله پوښتنه وشوه، نو ډېر په اغېزناک ډول يې وويل: «دې موټر په دې فکر کې اچولی يم، چې په دواړو جهانونو کې کوم جهان به زما لپاره غوره وي، دا جهان که راتلونکی؟ (هندوستان ټايمز – ۲۰ نومبر ۱۹٦١ء)

## دې ته ورته يوه بله کيسه به هم ولولو

په ۱۹۷۵ کې د جولای او اګست په مياشتو کې په بيهار ايالت کې ډېر ويجاړوونکی سيلاب راغی. ګڼې کورنۍ بې کوره او دې ته اړ شوې، چې په نورو سيمو کې د ځان لپاره استوګنه ولټوي.

په ځېل شويو کې يوه نيستمنه مسلمانه کورنۍ دهلي ته هم راغله. د دې کورنۍ د ګټې وټې سری په طوفان کې له منځه تللی و او دوولس کلن يتيم زلمي شريف او ضعيفې او ناروغې مور يې پوازې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې اسره دهلي ته مخه را کړې وه، چې دلته يې زوم ريکشه چلوي او يوه مړۍ روزي پيدا کولی شي. ښکاره ده، چې يو تن ريکشه چلوونکی به د دوو کورنيو پالنه څرنګه وکړي؟ نو شريف هم کار ته مخه کړه. لومړی يې څو ورځې په يوه معمولي هوټل کې لوښي ووينځل. وروسته يې په يوه شتمنه مسلمانه کورنۍ کې د کور د کارونو لپاره په پنځوس روپۍ مياشتنۍ معاش کار ومونده.

شريف د خورا نيستمنې کورنۍ زلمی و. دې دنيا ته يې چې سترګې وغړولې، نو يو کلک فرش يې د بسترې په توګه ترلاسه کړی و، تر دې دمه يې ژوند داسې تېر کړی و، چې نه يې پښو پڼۍ ليدلې وې او نه يې د ټول بدن د پټولو لپاره جامې اغوستې وې. د ژمي په يخو شپو کې به يې د لرګي ورې، ورې ټوټې او پاڼې ټولې کړې او د هغو اور او لوګي ته به يې شپې تېرولې او بيا به يې يو فرش ځان ته په ځمکه وير کړ، او بل فرش به يې په ځان ور هوار کړ.

په دسمبر مياشت کې يو سهار چې شريف د کور د مالکې بستره ټولوله. نو ناڅاپه يې ذهن ته يو فکر ورغی. په تخت هوارې نرمې توشکې، د بسترې ښکلې څادر او د مخملي رخت ګرانبيه کمپلې ته يې پام شول، دې شيانو يې څو شېبې ذهن ځان ته ور ټول کړی و. د مالکې لور ته يې وويل، «خورې! د خدای په نزد هم دغسې بسترې شته دي؟» دی په خپله پوښتنه کې دومره غرق و، چې د نجلۍ دا خبره يې هېڅ وا نه وريده: «اوو ساده! هلته خو به تر دې هم ښې بسترې وي.»

که ځير شو، نو په اوسني عصر کې له هر انسان سره دغه ډول ذهنيت دی، لوی، ماشوم، شتمن، نيستمن، عالم، جاهل، ټول د دنيا په تېرايستونکو رنګينيو ور مات دي. لذت، دولت، شهرت، عزت، مقام، اقتدار، لنډه دا چې له دنيوي شيانو چې هر شی د کوم انسان سترګو ته درېدلی دی، نو انسان د هماغه شا نيولې او د حال په ژبه يې ويلي دي، چې «د خدای په نزد دغسې خوندور شيان چېرته دي، نو په دې دنيا چې څه لاسته راځي، ولې يې لاسته نه راوړم؟»

عجيبه خبره دا ده، چې په دې برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د مذهبي خلکو حال هم د دنیاپاله خلکو په څېر دی. هغه دنیوي امکانات چې په اوسنی زمانه کې د انسان مخې ته پراته دي، د هغو د ترلاسي په هلو ځلو کې مذهبي خلک هم له چا نه وروسته نه دي پاته. د مقام او مرتبې جنون، د مشرۍ او واک ویاړ، د جلسو او مظاهرو نندارې، د نړیوالو کانفرانسونو لپاره الوتنې، د خطاب او هرکلي تماشې، د ورځپاڼو په سرلیکونو کې راتلل، او د دغسې نورو شیانو شوق په مذهبي خلکو کې هم همدومره دی، څومره چې یې عام دنیاپاله خلک لرلی شي. داسې ښکاري، چې هغه څوک چې د اخرت په اړه وعظونه کوي، هغه پخپله هم په اخرت یقین نه لري. که یې لري هم، ډېر کم.

**یو بریالی انسان چې د مرګ دروازې ته ورسېږي، نو هلته دا احساس ورته ودرېږي، چې د دروازې بل پلو ته له مایوسۍ او بربادۍ پرته څه نشته**

هووړډ هیوز د امریکا مشهور میلیونر و. په ۱۹۷٦ کې د هوایي سفر پر مهال د زړه حمله ور باندې راغله. الوتکې سمدستي په هاؤستن کې ناسته وکړه. خو هسپتال ته تر رسېدو پورې هیوز ساه ورکړې وه.

له خپل قانون پوه پلار نه هیوز ته یو میلیون ډالر په میراث کې ور پاتې و. خو د خپل لوړ کاروباري استعداد په مټ یې خپله سرمایه له ۲۰ زره کروړه ډالر نه هم اړولې وه. هغه کاري دله چې په دې سفر کې د هیوز ملګرې وه، هغوی چې د ده د وروستیو شېبو په اړه د خپلو سترګو لیدلی کوم حال بیان کړ، مشهور امریکایي انځورګر شرل سالومن د همدې بیان له مخې د ده خاکه وکښله. په دې خاکه کې د هیوز د ژوند وروستۍ شېبې انځور شوې دي. د امریکا بریالی سوداګر په دې انځور کې د وېرې، ناهیلۍ، بې وسۍ، ناکامۍ او بې باورۍ مجسم تصویر تر سترګو کېږي. د امریکایي سوداګر بوړنوونکې رسامۍ د ده هغه کیفیت راته بیانوي، چې پر یوه انسان هغه مهال راځي، چې د مرګ دروازې ته رسېدلی وي او تر شا یې هغه ژوند ولاړ وي، چې ده ورسره مخه ښه کړې وي، او مخې ته یې هغه ژوند ولاړ وي، چې د تل لپاره به یې همدلته استوګنه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# روژه



غالبا د ۱۹۴۳ خبره ده. په گورکپور کې يو مسلمان افسر اوسېده. له برابره مرغه، د روژې په مياشت کې مې يوه مياشت له دې افسر سره تېره کړه. د ده د کور مخې ته جلا مېلمستون جوړ و. ومې ليدل، چې هر سهار به د قرآن يو قاري له سيني سره يو قرآن را نيولی و، مېلمستون ته به ننوت، څو شېبې به يې تلاوت وکړ، او بېرته به ولاړ.

څو ورځې مې چې دا پېښه وليده، نو مسلمان افسر ته مې وويل، «دا سړی څوک دی، چې هر سهار دلته راځي.» افسر لومړی زما په پوښتنه وخندل، بيا يې وويل: «خبره دا ده، چې زه روژې نه نيسم. دا قاري صاحب مې نيولی دی، چې توله روژه به زما کور ته راځي او د قرآن کريم تلاوت به کوي او د مياشتې په پای کې به يې په عوض کې يو څه پيسې ورکوم.»

دا د يوه «بې روژې کس» کيسه وه. اوس د روژه‌تيانو کيسې ته غوږ شئ. يو ځل مې له اذان نه مخکې خپل ساعت ته په کتو روژه ماته کړه. څو تنه جدي په دې گمان شول، چې روژه مې سمه نه شوه. نن ورځ د روژه‌تيانو دا حال دی، چې روژې ته دومره کلک چمتووالی نيسي، چې له سپېده چاود څو دقيقې مخکې يې بندوي او له لمر لوېدو څو دقيقې وروسته يې ماتوي. دې عمل ته يې بيا د «احتياط» نوم ورکړی دی. يوه خوا د روژې په وختونو کې د احتياط مسئله تر دې ځايه رسېدلې، چې په پېشلمې کې بېړه او په روژه ماتې کې د څنډ تر حده پام ساتل کېږي. حال دا چې دا عمل په ښکاره له سنت طريقې سره په ټکر کې دی. په دې چې په حديث کې راغلي دي، چې زما امت به تر

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغو پوړې په خير باندې وي، چې په روژه ماتي کې بيړه کوي. بلې خوا ته د روژې د مقاصدو په برخه کې بيا د بې احتياطي دا حال دی، چې دا مهمه نه ګڼي، چې د روژې په جريان کې بايد يو بد عمل ترسره نه شي، له شخړو ډډه وشي او دروغ ونه ويل شي. حال دا چې په حديث کې ويل شوي دي، يو شخص چې روژه يې په خوله وي او دروغ وايي، روژه يې روژه نه ده. په يوه بل حديث کې بيا راغلي دي، چې روژه‌تې کس چې د يوه مسلمان غيبت کوي، نو داسي ده لکه په حلال شي يې چې روژه نيولې وي او په حرام شي يې ماته کړې وي.

دا دواړه کيسې په سترګو له يو بل نه جدا ښکاري. يوې خوا ته روژه نيول کېږي، بلې خوا ته روژه نه ده نيول شوې. خو ژور چې ورته ځير شو، نو د دواړو لورو شعوري حالت سره يو شان دی. دواړه لورې عبادت يا روژې ته د رسمي عمل په سترګه ګوري، نه د داسي عمل په سترګه چې د انسان له دروني ژورو را توکېږي او د ټول وجود استازيتوب کوي.

د عبادت يوه معنا دا ده، چې عبادت بايد ژوندی عمل وي. بله معنا يې دا ده، چې مازې يو دود وي. ژوندی عمل د انسان له ټول وجود نه سرچينه نيسي. د انسان د بشپړې هستۍ اظهار وي. بل خوا، دود مازې يو بې روحه خارجي عمل وي. د انسان زړه او روح په‌کې دخيل نه وي او يوازې په سرسري ډول يې سرته رسوي. مثلاً په تنهايي کې د خدای په ياد کې اوښکې تويول عبادت دی، مګر د خپلو دنيوي بوختياوو پرمهال د تسپې په دانو «الله الله» ويل، يوازې يو دود دی. په تنهايي کې چې د مؤمن له سترګو کومې اوښکې بهېږي، دا اوښکې د بنده د ټول وجود شيره وي. خو د «الله الله» لفظ چې شمېرې، هغه يوازې پلاستيکي داني په تار کې پېيلې وي او له خپلو نورو مصرفيتونو سره هم‌مهاله يې د ګوتو په حرکت سره اړوي را اړوي. په ژوندي عمل کې د انسان او عمل ترمنځ ژوره روحاني رابطه وي، خو په رسمي دود کې بيا د دواړو ترمنځ هېڅ تړاو نه وي.

په اوسنۍ زمانه کې روژې يو ډول د کلني دود حيثيت خپل کړی دی. د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند د معمول څېر په خپل حال روان وي او د روژې میاشت چې راشي، نو دا په دې معنا وي چې په انسان د هجرې کلیزې نهمه میاشت راغله، یاني روژه د خلکو ژوند ته نه وي داخله شوې. نه له روژې سره د خلکو زړونه نرمېږي. نه عاجزي ورکې راځي. نه یې د روا او ناروا چارو په برخه کې د شامې قوه پیاوړې کېږي. د دوی لپاره د روژې میاشت په دې معنا وي، چې له یوه ټاکلي وخت نه به تر بل ټاکلي وخته پورې خوراک او څښاک نه کوي او په دې فکر وي، چې په دې لوړه به خدای ورنه خوشاله شي. نو روژه نه نیوونکی ولې دا فکر ونه کړي، چې د خدای د خوشالولو لپاره خو یو دود پکار دی، نو هغسې چې روژه یو دود دی، تلاوت هم یو دود دی. که یو دود دې په ځای نه کړ، نو بل دود په ځای کړه. خدای چې په یو دود خوشالېږي، نو په دې بل دود به هم خوشاله شي.

اصلي نکته دا ده، چې روژه مازې یو خارجي عمل نه دی، بلکې یو باطني عمل دی. روژه د مؤمن د اروایي حالت بدني اظهار دی. د مؤمن معنا دا ده، چې یو شخص باید په دنیوي ژوند کې له بدیو ځان وساتي. د «کولو او نه کولو» په هکله د خدای له ټاکلو حدونو تېرى ونه کړي. روژه د همداسې منظم او تړلي ژوند تمرین دی. په روژه کې د خوراک څښاک پرېښودو معنا دا ده، چې انسان په روزمره ژوند کې د «دا وکړه او دا مه کړه» لازمي تربیه واخلي او دا درس ورکول شي، چې تاسو به خپل ټول ژوند په همدې ډول تېروئ. په همدې ډول به خپل ټول ژوند د یوه «روژه تي» په حیث تېروئ، چې په خپلې ارادې سره د ژوند له یوه طرز نه لاس واخلي او د ژوند یو بل طرز په خپله خوښه غوره کړي. د روژې په میاشت کې بند ژوند له آره د ټول کال او ټول ژوند لپاره د بند ژوند سمبول دی. د دې معنا دا ده، چې بنده باید په خپلو ټولو چارو کې د «روژه تي» هغه چلند ور خپل کړي، چې د روژې په میاشت کې یې د اوبو او خوړو په برخه کې خپل کړى وي. که داسې نه وي، نو د حدیث په ټکیو کې «الله دې ته حاجت نه لري، چې انسان دې مازې له اوبو او خوړو لاس واخلي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



که روږه‌تیان په خپل چلند سره د حقیقي روژې مثال وړاندې کړي، نو بې روژه‌تیان به هېڅ کله هم دې فکر ته زړه ښه نه کړي، چې د خپلې روژې د جبران لپاره د معاوضې په بدل کې د قاري صاحب له خدماتو هم ګټه اخیستلی شي، ځکه نور به ده ته دا عمل ډېر زیات د خندا وړ برېښي. حقیقت دا دی، چې د روژې دا بې ارزښتي د روژه‌تیانو له لاسه جوړه شوې ده، نه د بې روژه‌تیانو له لاسه. بې روژه‌تیان به هماغه څه روژه ګڼي، چې روژه‌تیان یې عملي مثال وړاندې کوي.

# د زماني مزل

د غیر متحده ملکونو کانفرانس په ۱۹۷٦ کال د اګست په میاشت کې په کولمبو کې وشو. له دې کانفرانس نه یو خبر دا و، چې د ۳۵ اسلامي هېوادونو مشرانو او ملګرو یې چې په دې کانفرانس کې ګډون کړی و، د اګست په دیارلسمه د جمعې لمونځ د سیمې په جامع جومات کې وکړ. د دې کار لپاره یوه کمېټه جوړه وه او رئیس یې الحاج بدیع الدین و، چې د سرې لنکا د حکومت یو وزیر و.

که د اسیا او افریقا په سیمه کې دا دول کانفرانس پنځوس کاله پخوا په «کولمبو» کې شوی وای، نو په ورځپاڼو کې به مو دا ډول خبرونه نه وو لوستلي. په دې چې هغه مهال به د «۳۵» اسلامي هېوادونو استازې مسلمان مشران نه و، بلکې د اروپایي هېوادونو والیان او وایسرای به و. اوسني عصر د اسلام د احیاء لپاره ډېر زیات نوي فرصتونه ایجاد کړي دي، خو شاید خلک به تر اوسه پورې له دې فرصتونو خبر نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل له لمانځه

د دوه کاله پخوا خبره ده، زه په خپل کتاب «الاسلام» د لیکلو پر مهال له یوې پوښتنې سره مخ وم. «اوسنی عصر د تجربو او مشاهدو عصر دی. که د نن ورځې انسان له ما پوښتنه وکړي، چې آیا د اسلام رښتینولي د تجربې له مخې د پوهېدو وړ ده، نو زما ځواب به ورته څه وي؟» په دې جریان کې مې د ۱۹۴۷ کال د جولای په یوه شپه په دهلي کې خوب ولیده، چې ځینې نامسلمانان راسره دي او د اسلام په هکله خبرې اترې ورسره کوم. غالبا هغوی د اروپا خلک و او له ما نه یې دقیقا همدا پوښتنه کوله. عجیبه خبره ده، هغه پوښتنه چې ما د ویښتیا په حالت کې حل نه کړه، الله تعالی د خوب په حالت کې راته روښانه کړه. په خوب کې مې ولیدل، چې د دې پوښتنې په ځواب کې ډېر په ډاډ سره هغو خلکو ته وایم: «هو د اسلام تجربوي ازمایښت شونی دی، او د دې یو شکل دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، چې لمونځ تجربه کړئ.» د مخاطب له امله دغه خبرې اترې په انګریزي ژبه کې وې. سترګې مې چې خلاصې شوې، نو خپله یوه جمله مې ټکي په ټکي په یاد وه. ما ورته ویلي و:

Without being a Muslim, you can experience Namaz.

(له اسلام منلو پرته هم د لمانځه تجربه کولی شئ.) زما چې څومره یادېږي، له دې وروسته هغوی اودسونه وکړل او له ماسره یې لمونځ وکړ. د لمانځه دغه «تجربه» د دوی لپاره دومره اغېزناکه وه، چې له لمانځه وروسته یې سمدستي اسلام ومانه.

په تاریخ کې د دې مثالونه ډېر زیات دي، چې خلک یوازې د لمانځه په لیدو مسلمانان شوي دي. ویل کېږي، چې د ابوسفیان ځیګرخوره مېرمنه هند چې له اسلام نه اغېزمنه شوه، ابتدايي سبب یې همدا لمونځ و. مسلمانان چې د فاتحانو په حیث مکې ته ننول، نو هلته یې ظلم او غرور ونه کړ، بلکې جومات ته یې مخه کړه او د خدای په مخکې یې د خپلې عاجزۍ او بندګۍ اقرار وکړ. له ابن منده نه روایت دی، چې هند خپل مېړه ابوسفیان ته وویل، چې زه غواړم اسلام ومنم. ابو سفیان ورته وویل، ته خو تر پرونه پورې د اسلام سرسخته مخالفه وې. هغې ځواب ورکړ، هو، مګر پرون شپه مې چې په سترګو کوم منظر ولیده، هغه زما ذهن په بشپړ ډول بدل کړ.

«والله ما رأیت الله تعالی عبد حق عبادته فی هذا المسجد قبل اللیلة، والله ان باتوا الا مصلین قیاما و رکوعا و سجودا.»

ژباړه: په خدای قسم! له پرون شپې نه مخکې ما هېڅ کله نه و لیدلي، چې په دې جومات کې دې د خدای عبادت هغسې شوی وي، څرنګه یې چې حق دی. په خدای قسم! دې خلکو ټوله شپه لمونځونه کول او ټوله شپه یې په قیام، رکوع او سجدو کې تېره کړه.

د افریقا د تاریخ یو شنونکی لیکي:

«په منځنۍ افریقا کې اسلام تر ډېره پورې د ګرځندویانو او عرب تاجرانو په لاس خپور شو. د دوی تر ټولو لویه معجزه چې په افریقا کې یې اسلام خپور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ، لمونځ و. هلته چې خلک به په یوه امام پسې په کتارونو کې ودرېدل او له څېرو نه به یې د خدای وېره ورېده، نو لیدونکي به ورته ویلي ویلي شوو. خلک یوې خواته په خپلې سپکې بت پرستۍ پښېمانه شوو، بلې خوا ته اسلامي عبادتونو خپل لور ته ور جذب کړل. په پایله کې یې یوازې د لمانځه له برکته په منځنۍ افریقا کې په لوی شمېر نفوسو کې اسلام خپور شو.»

د شاه جهان په زمانه کې د منګولو او مغلي سلطنت ترمنځ ډېرې جګړې پېښې شوې. په دې زمانه کې اورنګ زېب، شهزاده و او د جګړې لپاره همدی ور ولېږل شو. ده منګول تر سنکیانګ سیمې پورې وتمبول. ویل کېږي، چې د اورنګ زېب او جي سینګ پوځونو د سنکیانګ په دښته کې له منګولو سره جګړه کوله او د ماسپښین د لمانځه وخت راغی. اورنګ زېب له خپل اس نه را کوز شو. او د جنګ په میدان کې یې څادر هوار وکړ، په لمانځه ودرېده. د منګولو پام شول، چې پاچا د «ناستي ولاړې» غونډې په کوم فعل باندې لګیا دی. نو دوی یې په دې

کار ډېر زیاته حیرانه شوو او د دې لپاره چې د لمانځه اداب له نږدې ووینې، جګړه یې ودروله او اورنګ زېب یې محاصره کړ. اورزګ زېب په سکون سره په خپل لمانځه ولاړ و. منګول ترې چارچاپېر راتاو و او یوه، یوه حرکت ته یې په حیرت سره کتل. کله چې پاچا سلام واړاوه، نو منګولو پوښتنه ترې وکړه، چې دا تاسو څه کول؟ اورنګ زېب ځواب ورکړ: «د هغه خدای عبادت مې کاوه، چې تر ټولو لوی او تر ټولو ډېر مهربان دی.»

منګولو چې د پاچا دا ځواب واورېده، له وېرې ولړزېدل. حوصلې یې ماتې شوې او په دې فکر یې خپلې وسلې وغورځولې، چې د داسې زړور انسان ماتول امکان نه لري. دا د ۱٦٤٧ء پېښه وه.

محمد حسنین هیکل (د الاهرام پخواني مسؤل مدیر) لیکلي، چې جمال عبدالناصر چې لومړی ځل روس ته سفر وکړ، نو د هغې زماني وزیر اعظم نکیتا خروشچوف د خبرو اترو په اوږدو کې له لمانځه سره ډېره زیاته لېوالتیا وښوده. دا د ۲۹ اپریل ۱۹۵۸ خبره ده.

«خروشچوف له دې سره ډېر شوق

(c) ketabton.com: The Digital Library


درلوده، چې د مسلمانانو د لمانځه صحنه ووینې. کله چې د خروشچوف په کور کې د غرمې له ډوډۍ وروسته ولسمشر ناصر د ماسپښین لمانځه لپاره جومات ته روان و، نو خروشچوف یوه دنیا پوښتنې ترې وکړې. ناصر چې تر څو پورې په اوداسه لګیا و، خروشچوف په خپله له دسمال سره ورته ولاړ و او ډېر لوی عقیدت او درناوی یې ښکاره کړ.»

د بشرپوهنې نویو څېړنو ښودلې ده، چې د معبود لمانځنه یوه فطري جذبه ده، چې هر انسان یې د پیدایښت له ورځې ورسره راوړي. دا جذبه په یوه شي هم له منځه نه ځي. لمونځ د دغې فطري جذبې د اظهار فطري طریقه ده. داسې ښکاري، چې د لمانځه په ادابو او طریقو کې دا فطري تقاضا په داسې ډول را ټوله شوې، چې د انسان او لمانځه ترمنځ یو ځانګړې تړاو ایجاد شوی او لمونځ د انساني فطرت عملي تصویر ګرځېدلی دی. په جون ۱۹۷٦ء کې یو ځل د یوه نامسلمان کس په کور کې په لمانځه ودرېدم. د کور څښتن وویل، «تاسې مې چې په لمانځه ولیدلئ، په تندي مې خوله را ماته شوه. زړه مې غوښتل چې زه هم در ګډ شم.» دغه ډول تجربه مې په ژوند کې څو، څو ځلې پېښه شوې ده.

زموږ مسؤلیت دی، چې د خدای دین د هغه تر ټولو بندګانو پورې ور ورسوو. په دې اړوند یوه پوښتنه دا ده، چې دا کار په عملي ډول له کوم ځایه پیل کړو او په څه ډول دین د هغوی لپاره د بحث موضوع وګرځوو. په اوسنیو حالاتو کې د دې یو عملي شکل لمونځ ښودلی شو. دا سمه ده، چې د لمانځه «ناسته ولاړه» به ځینو خلکو ته عجیبه غوندې شی ښکاري، هغسې چې په مکه کې له ابو طالب سره پېښه شوې وه. خو دا هم حقیقت دی، چې د ده زوی علي بن ابي طالب په لومړیو کې د لمانځه په لیدو له اسلام نه اغېزمن شوی و، او بیا د اسلام تر ټولو لوی سرتېری ترې جوړ شو.

حقیقت دا دی، چې نورو اقوامو ته د دین رسونې لپاره لمونځ یوه کامیابه ذریعه ګرځولی شو. په لمانځه کې فطري کشش له همېش نه موجود و. مګر د اوسنی زماني د تجربې او مشاهدې مزاج لمانځه ته «ساینسي» ارزښت هم ور ښبلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نن ورځې انسان غواړي، چې د یوه شي تر منلو له مخه یې په عملي شکل پوه شي او پخپله یې تجربه وکولی شي. لمونځ دې اړتیا ته په ډېر کامل شکل سره ځواب وايي. یو انسان چې په لمانځه کې مشغول وي، نو په ډېرې حیرانتیا سره دا محسوسوي، چې لمونځ یې د دروني اواز ځواب دی. د لمانځه په بېلا بېلو اعمالو کې انسان د خپلو روحاني تقاضو پوره کېدل ویني. د انسان ټول وجود په داسې ډول په لمانځه کې ښکېل وي، ګواکې دی او لوړ حقیقت دواړه په یو بل کې جذب شوي دي. تر دې چې هغه څوک چې له لرې نه د لمانځه نندارہ کوي، هغه هم د لمانځه سپېڅلتیا، عظمت او له انساني وجود سره یې همغږي ته حیران پاتې کېږي. دغه شخص په پرانیستو سترګو ویني، چې د خپل معبود د لمانځنې له دې نه بله بهتره طریقه امکان نه لري.

د اخرت مسئله داسې ده، چې انسان باید د لمانځه په خوا کې ایمان هم ولري. خو د دې کیفیت د موندلو لپاره رسمي ایمان ته اړتیا نشته. یو شخص چې سنجیده وي، له ایمان پرته هم کولی شي، چې په ټاکلي طریقه لمونځ وکړي او د لمانځه له کیفیتونو او خوندونو نه خپله برخه یوسي. د لمانځه دا اړخ په انسان کې یو دعوتي ارزښت ته لاره جوړوي. د مکې تاریخ دا خبره په عملي ډول راته په ډاګه کوي، ځکه په مکه کې د اسلام په ابتدايي دور کې، له قرآن کریم نه وروسته همدا لمونځ د دې ذریعه شو، چې خلک یې دین ته نږدې کړل.

په نورو قومونو کې د دین د خپراوي لپاره په اوسنی زمانه کې د نورو کارونو په خوا کې یو کار باید دا هم وکړو، چې په نړیواله کچه د مسلمانو ځلمیانو یو تنظیم جوړ کړو. د دې تنظیم مقصد به لمونځ کول او لمونځ ښودل وي. د تنظیم غړي به په ټولو کې ښارونو کې مېشت وي او هره ورځ به یوه داسې پارک ته ځي، چې هلته نامسلمان ښځې او نارینه د تفریح لپاره راځي. دلته به یو دوه ساعته په داسې ډول تېروي، چې د دوی خبرې اترې او ناسته ولاړه به په بشپړ ډول سنجیده او جدي وي. د قرآن کریم ترجمه یا بل داسې کتاب به ورسره وي، چې د نبي کریمﷺ او د صحابوو اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ایماني کيسې ولري. دوی به پخپلو کې دغه کتابونه مطالعه کوي. په اراديي ډول به چاته د تبليغ کولو هڅه نه کوي. البته که کوم شخص د درس په حلقه کې کېناسته، نو په ډېر درناوي به يې کېنوي. که پوښتنه يې کوله، نو په ډېره نرمه او سنجيده ژبه به ځواب ورکوي. که ځواب ور معلوم نه وي، نو صفا به ورته ووايي، چې مونږ يې په ځواب نه پوهېږو. څېړنه به وکړو او سبا به يې ځواب درته راوړو. د لمانځه او نورو اسلامي لارښوونو په هکله د بېلا بېلو ژبو ورېږ ورېږ رسالې به ورسره وي، چې لېواله کسانو ته يې ورېا ورکړي. د پارک د دې برنامې مهمه برخه به لمونځ وي. د دې هدف لپاره به غالبا د مازديگر لمونځ ډېر مناسب وي. ټول ځوانان دې په گډه لمونځ وکړي. لمونځ دې ښه ورو وکړي. داسې دې نه کوي، چې ژر، ژر لمونځ وکړي او سلام واړوي. په څلور رکعته لمانځه کې دې لږ تر لږه شل دقيقې وخت ولگوي. لمونځ دې داسې وکړي، گواکې په رښتيا د خدای مخې ته ولاړ دي او د خپلې بندگۍ اظهار ورته کوي.

که څو کلونه دا کار پرلپسې په ډېرې چوپتيا او سنجيده توگه وشي، نو خورا ناعادي پايلې به ولري. په جوماتونو کې د لمانځه تحريک د مسلمانانو د اصلاح لپاره ډېر بريالی روان دی. د لمانځه دغه ډول تحريک چې نامسلمانانو ته د دين رسوني په خاطر هم په لاره واچول شي، نو زمونږ د مسؤليت دواړه غوښتنې به پوره شي. او که په دنيا کې يې (خدای مه کړه) نتيجه ور نه کړه، نو په آخرت کې به ان شاءالله حتما زمونږ شمېر په هغو خلکو کې وي، چې د خدای د مخلوق په وړاندې يې د حق شاهدي ورکړې ده او د مؤمن لپاره همدا بسنه کوي.

دا هم ډېر ضرور دی، چې دا کار په منظم ډول وشي. په دې برنامه کې چې څوک برخه اخلي، هغوی دې په خپله خوښه يو تن «ويناوال» وټاکي. همدا کس دې کتاب لولي او همدا دې د اړتيا په وخت کې خبرې کوي. نور ټول دې غلي ناست وي او د ويناوال لپاره دې په زړه کې دعا کوي، چې الله تعالی يې مرستندوی شي او د ده له ژبې دې يوازې د حق او خير خبرې ووځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د صحابوو د دور مدرسې

آرتر کیت (۱۹۵۵ – ۱۸۶۶) د مصر د لرغوني تاریخ له مطالعې وروسته لیکلي دي، چې «مصر د مسلمانانو تورې نه دی فتح کړی، قرآن فتح کړی دی.» همدا خبره د اسیا او افریقا د هغې ټولې سیمې په تړاو هم سمه ده، چې نن ورځ یې موږ په اسلامي نړۍ پېژنو. داسې ولې وشول چې دې ټولو قومونو نه یوازې خپل مذهب بدل کړ، بلکې خپله ژبه یې هم بدله کړه او اسلامي ټولنه کې شامل شول؟ ځواب دا دی، چې د مدرسو له لارې. د لومړني دور مسلمان عربان چې په شاوخوا مملکتونو کې خپاره شول، نو هلته یې د اسلامي رسالت د مرکز په توګه ځای، ځای مدرسې جوړې کړې. په دې مدرسو کې به خلکو ته عربي ژبه تدریسېده او قرآن او حدیث به ورښوول کېدل. له دې مدرسو نه به چې څوک فارغ شول، هغوی به خپلو سیمو ته لاړل او هلته به یې هم همداسې اداري

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته کړي. د مدرسو په بنسټ د کار دغه تګلاره وه، چې په یوه پېړۍ کې یې د هغه وخت د اباديې دنیا په لویه برخه کې مذهب، تمدن او ژبه بدله کړه.

قرآن یوه تلپاتې معجزه ده. د کایناتو خالق د دې کتاب له لارې له خپلو بندګانو سره خبرې کړې دي. قرآن په دې دنیا کې د خدای او بنده ترمنځ د اتصال کړی ده، دا کتاب ژوونه تودوي او شعور را ویښوي. د دې کتاب لوړ مضامین او اسماني ادب دومره اغېزناک دی، چې هر هغه شخص چې په قرآن کریم ځان پوه کړي، نو د دې کتاب صداقت ته یې سر ټیټېږي. دغه راز د پیغمبر ﷺ سیرت او د صحابوو حالات د بشري تاریخ یوه هیښوونکې انقلابي پېښه ده، چې د انسان ژوند ته د حرارت ښېلو خورا ډېر ځواک لري. د اولنې دور مدرسې همدغو شیانو ته د ژوند ورکولو اداري وې. په دې مدرسو کې به د عربي ژبې له زدکړې وروسته انسان له قرآن او حدیث سره یو ځای شو او بیا به انسان د ایمان او حرارت له دې خزانو نه نېغ په نېغه د خپل دین په زدکړه لګیا شو. دیني علم به د ده لپاره د پیغمبر او صحابوو په مجلسونو کې د ناستې په معنا و. د خدای کتاب به د ده د فطرت د ویښتیا چاره کوله. د پیغمبر او صحابوو انقلابي سیرتونو به یې په زړه کې د عمل لمبې بلې کړې وې. په دې سره به د ژوندیو انسانانو یو داسې لښکر چمتو شو، چې د خدای لپاره د ژوند او د خدای لپاره له مرګ پرته به په بله هیڅ خبره نه پوهېدل.

نن ورځ د مدرسو شمېر تر پخوا ډېر زیات شوی دی، خو نن ورځ د مدرسو هغه ګټې نه لیدل کېږي، چې په اولني دور کې یې لیدل کېدلې. د دې وجه دا ده، چې اوسنۍ مدرسې د خپل سټرکچر له مخې له هغو مدرسو سره ډېر فرق لري، چې صحابوو او تابعینو جوړې کړې وې. د اوسني عصر په مدرسو کې دیني علم د یوه فن حیثیت خپل کړی دی. قرآن د دې لپاره نازل شوی و، چې په لوستو یې د انسان د بدن وېښته ودرېږي او زړونه د خدای په یاد کې ولړزېږي، خو د اوسنیو مدرسو په نصاب کې قرآن کریم صرف ضمني حیثیت اخیستی دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر سیرت او د صحابوو حالات چې په بشري تاریخ کې د اورشیندونکو حیثیت لري، په دې مدرسو کې اصلاً نه لوستل کېږي. زموږ په مدرسو کې د احادیثو او اثارو ځای یوازې دا دی، چې د هغو پر بنیاد د فقهې پر یو څو له ځانه جوړو شویو مسایلو لایتناهي بحثونه وشي. په دې سربېره هغه فنون، چې «د علوم آلیه» په نوم تدریسېږي، هغه دومره وراسته او له وخته تېر دي، چې له دې پرته یې بله هېڅ ګټه نشته، چې په انسان کې ذهني جمود او بې معنا موشګافۍ ورزوي. د اسلامي مدرسې فضا باید د الله تعالی له عظمت نه سرشاره وي. مګر زموږ اوسني تعلیمي بنسټونه د زوال په هغه نکته کې ولاړ دي، چې هر یوه د ځان لپاره ځینې لویان او اکابر پنځولي دي او د مدرسې ټول فعالیتونه یوازې د همدغو لویانو د لویي په اړه درسونو او بحثونو ته ځانګړي شوي دي. په داسې حالت کې به څرنګه شوني وي، چې دلته دې خلک د ایمان د تودوخې درس واخلي، دلته دې اعلی انساني شخصیتونه جوړ شي. دلته دې له خدای او اخرت نه وېرېدونکي انسانان پیدا شي، دلته دې د اسلام هغه سېلاب را پورته شي، چې د اولني دور په مدرسو کې را پورته شوی و او په ټول عالم خپور شو.

اړتیا ده، چې یو ځل بیا د اولني دور په تګلاره مدرسې جوړې شي او د هغو په مټ د امت د اصلاح کولو غم وخوړل شي. د دې مدرسو نصاب باید ساده او غیرفني وي. د اوسنیو حالاتو له مخې دغه نصاب په څلورو مرحلو وېشلی شو:

لومړۍ مرحله: عربي ژبه او قرآن.

دوهمه مرحله: حدیث، نبوي سیرت، د صحابوو حالات، اسلامي تاریخ او داسې نور (په عربي ژبه)

درېیمه مرحله: نړیوالې ژبې، نور مذاهب او د هغو تاریخ. معاصره فلسفه، مهم ساینسي معلومات

څلورمه مرحله: په یوه اسلامي موضوع کې تخصصي څېړنه (په عربي ژبه یوه مقاله لیکل)

که په دې طرز یوه مدرسه په ښه معیار جوړه شي، نو بې له شکه چې دا به په اوسني دور کې تر ټولو لوی کار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اصلي کار د قرآني علومو احياء ده

پر دې خبره تل ویر کېږي، چې د ټولو اسلامي علومو د درس او تدریس اصلي مقصود قرآن و او نور ټول علوم د قرآن لپاره د ابزارو او وسایلو په ځای وو. خو د فضايي ستورو ځېرونکی د دوربین په جوړولو کې دومره غرق تللی و، چې اسمان ته يې سترګې اړولو ته هېڅ فرصت ونه مونده. ياني معقولات، فلسفه او کلام اصلي مقصود وګرځېدل او قرآن او قرآني علوم له يوې مخې له پامه وغورځېدل.

بیا خبره تر دې ځایه وغځېده، چې دا لوری هم نه لیدل کېده،



چې زموږ د مدرسو اصلي موخه څه ده. زموږ په مدرسو کې د پخوانیو معقولاتو متنونو او شرحو خو د ډېر بوج له لاسه د زده کوونکو ذهنونه فلج کړي دي، مګر د قرآن او قرآني علومو لپاره بيا د جلالين او بيضاوي يوازې په څو اجزاوو بسنه شوې ده. نو آيا د دې کتابونو په مټ له قرآن او د قرآن له علومو او معارفو سره رښتينی مناسبت امکان لرلی شي؟

## څو معاصرين

| | |
|---|---|
| فيروز شاه تغلق | - شيخ نصير الدين چراغ دهلوي |
| سلطان محمد شاه بهمني | - شيخ زين الدين |
| بابر پاچا | - شيخ عبدالقدوس ګنګوهي |
| اکبر پاچا | - ملا عبدالنبي |
| جهانګير | - شيخ احمد سرهندي |
| احمد شاه ابدالی | - شاه ولی الله دهلوي |
| نظام حيدر آباد | - شيخ حسين احمد مدني |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پنځوس کاله پخوا خبره ده، چې په ټوله دنیا باندې د اروپا د مسیحي قومونو غلبه وه. په قاهره کې له عیسوي مبلغ واټسن نه چا پوښتنه وکړه «له څومره وخت راهیسې تاسې د عیسوي تبلیغ په ډګر کې کار کوئ؟» پادري ځواب ورکړ، «له پنځوس کاله راهیسې.» بله پوښتنه یې ترې وکړه «په دومره کلونو کې څومره مسلمانانو عیسویت منلی دی؟» پادري وویل «شاوخوا یو نیم سل.» او بیا یې سمدستي وویل «خو تاسې باید بیدار اوسئ.»

د سایل لپاره د پادري دا جمله ډېره له اتکل لرې وه. ترې ویې پوښتل «له دې خبرې دې مطلب څه دی؟» پادري ځواب ورکړ، «مسلمانان لومړی د مادي ګټو لپاره عیسویان کېږي او بیا د مرګ په وخت کې بېرته توبه کوي.»

# همان ورق که سیه شته مدعا این جا است

د افریقایي ریاست ګابون ولسمشر البرټ نارډ بانګو (زوکړه ۱۹۳۵) په سپتمبر ۱۹۷۳ء کې اسلام ومانه. اوسمهال دا ډول خبرونه په دوامداره توګه را روان وي، چې نه یوازې عامه طبقه، بلکې د ممتازې طبقې غړي هم د اسلام ربښتینولی ته غاړه ږدي. اتیشي تناکا د جاپان د پولیسو مدیر و. له تقاعد وروسته یې سیاست ته مخه کړه او د پارلمان د غړي په حیث وټاکل شو. دی په اکتوبر ۱۹۷۵ء کې د توکیو اسلامي مرکز ته ورغی او د شهادت کلمه یې وویله او د اسلام منلو اعلان یې وکړ. بناغلی ټامسن د امریکا یودېرش کلن خبریال دی، ده فارسي ژبه هم زده کړې او د فلبرایټ بورسیو له لارې له یو کال راهیسې په افغانستان کې اوسي او د مولانا روم مثنوي انګرېزي ژبې ته ترجمه کوي. په خوا کې یې د قرآن کریم ترجمه ولوسته، اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب یې ور مطالعه کړ او له اسلام نه ډېر زیات اغېزمن شو. په ١٦ اپریل ١٩٧٦ء کې په اجمیر کې مسلمان شو. اوسنی اسلامي نوم یې د ځان لپاره معین الدین ټامسن غوره کړی. په ده باندې د شهادت کلمه د شاهجهاني جومات د خواجه صاحب په درګاه کې مولانا محمد یحیی صاحب تېره کړه.

په اوسني عصر کې د مسلمانانو بې شمېره غورځنګونه را پورته شوو. تر دې چې د دې غورځنګونو غوغا تر اسمانونو پورې ورسېده. خو دې ټولو غورځنګونو هغه ایکي یو کار ونه کړ، چې خدای تر ټولو ډېر دوی ته ور له غاړې کړی و؛ یاني د خدای دین د هغه تر ټولو بندګانو پورې رسول. خو بیا هم د مسلمانانو له هڅو پرته د فطرت دین په خپل سر د خلکو زړونو ته لاره کړې او یوه ورځ هم داسې نه تېرېږي، چې د دنیا په یوه ګوټ کې دې دا واقعه پېښه نه شي، چې د الله تعالی کوم بنده دې د خدای دین ونه مني.

مسلمانانو خو دومره هم ونه شو کړای، چې یوه داسې اداره رامنځته کړي، چې د دې نوو مسلمانانو شمېر او احصائیه را ټوله او خپره کړي. مګر د نړیوالو مذهبونو اداري په دې وروستیو کې ځینې شمېرې خپرې کړې دي. په دې کې ښودل شوي دي، چې له ١٩٧١ء نه تر ١٩٧٥ پورې په پنځو کلونو کې شاوخوا پنځه سوه زره کسانو اسلام منلی دی. دا شمېرې یوازې د اروپا او امریکا په اړه دي. په افریقا کې د مسلمانانو وروسته پاتې والی او د عیسوي مبلغینو په هینبووونکو هلو ځلو سربېره د عیسوي کېدونکو وګړو په پرتله د اسلام منونکو شمېر څو چنده ډېر دی. د السټریټیډ اوونیزې ورځپاڼې مسؤل مدیر خوشونت سینګ افریقا ته د خپلې دورې د یاداښتونو په ترځ کې لیکلي دي:

«د کینیا او یوګنډا په وروستي سفر کې مې د عیسویانو او مسلمانانو له هغو تبلیغي هڅو ځان خبر کړ، چې د نیګرو قبایلو په منځ کې رواني دي. عیسویانو دا منلې ده، چې د برده فروشه مسلمانو عربانو په تړاو د منفي خاطراتو باوجود د افریقا په تورپوستکو کې د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



منونکو وګړو شمېر له عيسوي کېدونکو څخه ډېر زيات دی.» (الستريتيډ اوونيزه، هند – ۷ جولای ۱۹۴۷ء، ۲۷مخ)

سره له دې چې موږ دقيقې شمېرې په لاس کې نه لرو، خو په دې کې هېڅ مبالغه نشته، چې نن ورځ هم له کومو خاصو تبليغي هلو ځلو پرته په ټوله دنيا کې چې څومره خلک مسلمانېږي، د هغو شمېر په کال کې له دوه سوه زره نه هم زيات دی. که له دې نويو مسلمانانو سره اړيکې ونيول شي او دا معلومات ترې واخيستل شي، چې د اسلام له کومې ځانګړتيا اغېزمن شوي دي او بيا د همدې معلوماتو په رڼا کې په نړيواله کچه د اسلام د خپراوي لپاره طرحه جوړه شي، نو يوازې په لسو کلونو کې د اسلام د سرلوړۍ هغه خوب په حقيقت بدلولی شو، چې له نورو لارو يې له دوو سوو کلونو راهيسې د ترلاسي هڅې کوو، خو لاسته نه راځي.

## ټوکه

شيخ سعدي شيرازي (۱۲۹۲ – ۱۱۹۳) د خپل ژوند لويه برخه د بې وسۍ په حال کې د درويشانو غوندې په سفرونو کې تېره کړه. يو ځل دمشق ته لاړ، هلته يې له خلکو سره په کومه خبره خفګان راغی، نو د فلسطين دښتې ته يې مخه کړه. هغه زمانه د صليبي جګړو زمانه وه. په فلسطين کې عيسويانو ونيوه او د طرابلس الشرق (لبنان) په سيمه کې يې له نورو بنديانو سره د خندق کيندنې کار ته ودراوه. سعدي په پټه خوله دا خوارۍ ګاللې. ډېره موده وروسته د حلب يو مخور کس له دې ځايه تېرېده. هغه شيخ سعدي پېژانده. هغه چې شيخ سعدي په دې حال وليده، ډېر زيات خفه شو. نو فرنګيانو ته يې لس ديناره ورکړل او له ځانه سره يې حلب ته روان کړ. هلته يې په ډېر درناوي په خپل کور کې وساته او يو بل احسان يې دا پرې وکړ، چې خپله لور يې د سل ديناره مؤجل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهر په بدل کې شیخ سعدي ته ور په نکاح کړه. خو دغه ښځه ډېره بداخلاقه او ژبوره وه او شیخ صاحب یې ډېر زیات پرېشانه کړی و. یوه ورځ یې ښځې د پیغور په ډول ورته ویل، «ته هماغه یې چې زما پلار په لس دیناره اخیستی و.» شیخ سعدي سمدستي ورغبرگه کړه،

«هو زه هماغه یم، چې پلار دې په لس دیناره واخیستم او بېرته یې په سل دیناره په تا خرڅ کړم.»

# نوې نړۍ

د شلمې پېړۍ اتمه لسیزه د هیښوونکو بدلونونو شاهده وه. د تېلو ځواک، چې درې څلورمه برخه یې تر اسلامي نړۍ لاندې وه، را ښکاره شو او د نړۍ اقتصادي او سیاسي نقشه یې ور بدله کړه. امریکا د خپل بهرني سیاست بدلولو ته اړ شو، د جاپان معجزوي صنعتي پرمختگ په ټپه ودرېده. برتانیه چې یو وخت پر منځنې ختیځ واکمنه وه، نن ورځ یې د منځنې ختیځ له هېوادونو نه پورونه اخیستل، او داسې نور. نیوز ویک (نیویارک) مجلې په ۱۸ فروري ۱۹۷۴ء کې په یوه ځانگړې مقاله کې لیکلي و،

The mountain, at last, is coming to Mohammad.

پورتنۍ جمله خپل شالید لري. له

چې په اوومه میلادي پېړۍ کې اسلامي پوځونو ټوله عربي خاوره ونیوله، تر څو د محمد پیغام په‌کې خپور کړي. له هغه را وروسته دا لومړی ځل و، چې عربانو په خپل تاریخ کې دغه ډول کامیابي خپله کړې وه. په یوه زمانه کې که تولې لارې روم ته ورغلې وې، نو نن ورځ تولې لارې ریاض ته ورغلې دي. ریاض ته هره ورځ د لویدیځو قومونو استازي ور روان دي او د نوې نړۍ له قارون (شاه فیصل) سره لیدنې کتنې کوي. له دې ډول خبرو وروسته امریکایي مجلې دا منلې وه، چې صلیبي جگړو وروسته چې په اروپا کې مسیحي قومونو په دې مقصد فرضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيسې اختراع کړې، چې د اسلام پيغمبر «دروغجن پيغمبر» ثابت کړي، نو په دې کيسو کې يوه خودساخته کيسه دا هم وه، چې په لوديځ ادب کې د يوه متل تر حده مشهوره شوه. فرانسيس بيکن (۱۵٦۱ – ۱٦۲٦) په خپله يوه مقاله «جرأت» کې ليکلي و، چې «يو زړور انسان هم د محمد غوندې معجزې بيا بيا ترسره کولی شي. محمد خلکو ته دا يقين ورکړی و، چې که دی غره ته اشاره وکړي، نو غر به هم د ده په لور ور وخوځيږي. خلک د دې معجزې ليدو ته را ټول شول. محمد غره ته وويل، چې زما خواته راشه، خو غر ونه خوځېده. ده بيا بيا خپله تکرار کړه. خو غر چې يوه ذره هم ونه ښورېده، نو محمد هيڅ خجالت نه شو. او بيا يې وويل: «که غر د محمد خواته نه شي را خوځېدلی، نو محمد خو د غره خواته ورتللی شي.»

حقيقت دا دی، چې نن ورځ نړۍ له ډېر چټک بدلون سره مخ ده. او که موږ له ژور ليده ورته وګورو، نو د دې بدلون مخه هماغه لور ته اوښتې ده، چې امريکايي مجلې د ټوکې په توګه په دې ټکو کې ښودلې ده «بالاخره، غر محمد ته ور روان شو.»

د ملتونو ټولنه لومړی په ۱۹۲۰ کې په جينوا کې منځته راغله. په ابتدا کې يې روس او امريکا غړيتوب ترلاسه نه کړ. په دوهم ځل په ۱۹۴۵ء کې د ملګرو ملتونو سازمان منځته راغی، چې لايحه يې په ماسکو کې ترتيب شوه او امريکا يې دايمي غړيتوب ترلاسه کړ. که څه هم اوس د يوه نوي نړيوال سازمان د جوړېدو امکان په سترګو نه ښکاري، خو د ملګرو ملتونو سازمان ډېر په چټکتيا سره د يوه بل انقلاب په خوا رهي ده.

د ملګرو ملتونو د جوړېدو په وختونو کې وضعيت داسې و، چې د اسيا او افريقا په ډېره برخه غربي ځواکونه مسلط و او همدا ځواکونه د هغو سياسي استازي و او په دې ډول د نړيوالې ټولنې په سازمان کې غربي قدرتونو غلبه ومونده. افريسيايي قومونو چې خپلواکي ترلاسه کړه، نو يوه دريمه نړۍ منځته راغله او نړيواله ټولنه کې د دوی د پراخه استازيتوب له امله هغو قومونو ته د ملګرو ملتونو په عمومي شورا کې لوی اکثريت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول شو، چې د ملګرو ملتونو د جوړېدو په وخت کې له مستقیم استازیتوب بې برخي و. په ۱۹۴۵ء کې ملګرو ملتونو یوولس غړي هېوادونه درلودل، خو په ۱۹۷۵ء کې یې شمېر ۱۴۰ ته ورسېده.

په دې سره د انډول پخوانی کنګل مات شو. په ۱۹۷۱ء کې چې د امریکا د خوښې خلاف د فارموسا په ځای کمونیست چین د چین په استازیتوب ومنل شو، نو دا ښکاره شوه، چې اوس پر نړیوال سیاست د غربي قدرتونو کلي غلبه مخ په ختمېدو ده. بیا په اکتوبر ۱۹۷۳ء کې د عرب – اسرائیل له جګړې وروسته د عربانو له لوري د تېلو د جزوي مقاطعې او د تېلو د بیو لوړوالي دا خبره خپل وروستي حد ته ورسوله او اوس خبره دې ځای ته راغلې، چې د سولې نړیوالې شورا سربېره د ملګرو ملتونو په ټولو غونډو کې د غربي قدرتونو له موجودیت سره، سره ټولې پرېکړې د عربانو په ګټه کېږي. امریکا ګواښ وکړ، چې که «د بلاک رایه اچونې» پروسه دوام وکړي، نو ډېر سخت ګامونه به واخلي. خو کله یې چې دغه ګواښ ګټه ونه کړه، نو په سپتمبر ۱۹۷۵ء کې امریکا یونیسکو ته خپله کلنۍ ۲۲ میلیونه ډالره مرسته ودروله. ځکه له دې اداري نه اسرائیل ویستل شوی و. خو تر دې اقدام وروسته عربانو سمدستي یونیسکو ته د ۲۵ میلیونه ډالرو مرستې د ورکړې اعلان وکړ.

په نړیوال سیاست کې یو نوی دور پیل شوی دی. د ملګرو ملتونو له لوري عربي ژبې ته د شپږمې نړیوالې ژبې ځای ورکول او د عربانو په مقابله کې اسرائیل او د اسرائیلو د ملاتړي امریکا ناندریز دریځ ته رسېدل دا راته ښیي، چې هغه ورځ لرې نه ده، چې د ملګرو ملتونو مخ له «لویدیځ» نه «ختیځ» ته را واوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناسم ګام هېڅ کله سمې پایلې ته نه رسېږي؛ که د دې ګام اخیستونکی ډېر مخلص او مقدس انسان هم وي

مولانا حمید الدین فراهي (۱۹۳۰ – ۱۸۶۳) د لوړې درجې محقق او مفسر و. دی په اردو سربېره، په عربي، فارسي، انګریزي او عبراني ژبو هم ډېر ښه پوهېده. په تقدس، اخلاص او د سنتو په پیروي کې د اکمال تر درجې رسېدلی و. «اردو پوهنتون» چې په بلاخره یې د جامعه عثمانیه (حیدرآباد) جامه واغوسته، په اصل کې د ده د ذهن تخلیق و. خو وروسته زماني او مکاني واقعیتونو د ۱۹۴۷ له انقلاب وروسته دې اداري ته د پای ټکی کېښوده. په اسلامي نړۍ کې د ذهني انقلاب په موخه مولانا فراهي په عربي ژبه د خپل تفسیر «نظام القرآن» په لیکلو لاس پورې کړ، خو له بشپړولو مخکې یې له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې. ده د شریعت پر بنسټ د سیاسي نظام جوړول د مسلمانانو اصلي اجتماعي مسؤلیت باله. مولانا فراهي د «ملکوت الله» په نوم پر دې موضوع په عربي ژبه یوه رساله هم ولیکله او دا خبره به سمه وي، چې د جماعت اسلامي «حکومتِ الهیه» تر یوه بریده د همدې افکارو یوه عملي بڼه وه. خو په هندوستان، پاکستان او بنګله دېش کې دغه جماعت د حالاتو له غره سره د ډېر تصادم په پایله کې اوسمهال د زوال په حالت کې دی. دغه ډول نور هم ډېر سیاسي تنظیمونه د طوفانونو غوندې را پورته شوو او د حباب غوندې یې کاسه نسکوره شوه.

د مولانا فراهي ډېر خاص شاګرد مولانا امین احسن اصلاحي د خپل استاد د ژوندلیک په ترخ کې لیکلي، «په علیګړ کې مولانا د انګریزي او نورو علومو په خوا کې په ډېرې لېوالتیا سره نوې فلسفه هم ور مطالعه کړه. په دې زمانه کې د علیګړ د فلسفې استاد مشهور انګریز ختیځپوه ډاکټر آرنلډ و. مولانا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسفي زدکړه خو له آرنلډ نه کوله، خو له ده نه ډېر خوشاله نه و. مولانا آرنلډ صاحب ته هم د هماغه سیاسي ډگر د یوه لوبغاړي په سترگه کتل چې انگرېزانو په علیگړ کې خپور کړی و. د علیگړ حلقې د ډاکټر آرنلډ صاحب د کتاب «د اسلام تبلیغ» ډېره زیاته ستاینه کوله. خو مولانا د دې کتاب ډېر سرسخت مخالف و. ده به ویل، چې دا کتاب په مسلمانانو کې د جهادي روحیې د وژلو لپاره لیکل شوی دی.» ترجمه قرآن مجید، ۱٦ مخ.

د نولسمې پېړۍ په دوهمه نیمه او د شلمې پېړۍ په اولنۍ نیمه کې یوه ډله مفکرینو سر راپورته کړ، هغوی ټولو شاوخوا همدې ته ورته فکرونه لرل. همدا وجه ده، چې په دې دور کې لوی لوی تحریکونه را پورته شوو، خو دې ټولو تحریکونو ته د اسلا د احیاء یوازنۍ لاره سیاسي انقلاب ښکارېدله. د دنیوي پایلو تر بریده دا ټول تحریکونه ناکامه و، خو تر دې لوی زیان یې دا پیښ کړ، چې له ناکامي وروسته دې ډول خلکو ته اوس یو کار هم د کولو لپاره په نظر نه ورځي. دغه تحریکونه له اسماني اړادو سره را پورته شوي وو، خو اوس د بې باورۍ او ماتو حوصلو درجې ته را غورځېدلي او په پوره ډاډ سره دا خبره کولی شو، چې هغه ځواک او شتمني چې دوی په سیاسي جهاد کې ولگوله، که یې د دعوت او تبلیغ په هغو غیرسیاسي لارو کې لگولې وای، چې «د اسلام تبلیغ» په کتاب کې یې یادونه شوې ده، نو د اسلامي احیاء خوب به نن ورځ په واقعیت بدل شوی و.

د دې دور د مفکرینو لویه تېروتنه دا وه، چې قتال او سیاسي حرکتونه یې د شریعت له جهاد سره اشتباه کړل. د مسلمان امت جهاد، دعوت دی؛ نه قتال او سیاست بازي. دا خبره په قرآن کریم کې خورا څرگنده راغلې ده. خو د دې دور د مجاهدینو پښه ډېره زیاته ونښوېده. پایله یې دا شوه، چې له یوې پېړۍ راهیسې دوی د سیاست په ډگر کې قرباني ورکوي، او یو چا هم دا اصلي اړتیا ونه پېژندله، چې د حق دین د پیغام لپاره باید د دعوت او تبلیغ فعالیتونه په لاره واچول شي. که دا فکر ورسره وای، نو د دعوتي طرز ادبیات به یې پنځولي و. د دعوتي طرز تنظیم به جوړ شوی و. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوتي طرز فعالیتونو لپاره به پلان گذاري کېدله. په اوسني دور کې د دعوت الی الله لپاره ډېر زبردست امکانات پیدا شوي دي. خو دا ټول امکانات او فرصتونه بې کاره پراته دي او ټول خلک د سیاسي قربانیو له بیرغ سره له دې دنیا نه روان دي.

د دې غمناکې تېروتنې جبران دا دی، چې پر دعوتي بنیادونو له نوي سره کار پیل شي. یوازې دعوت او تبلیغ په دنیا او آخرت کې سرلوړي او بریا را په برخه کولی شي. له دې پرته ټول کارونه د «خسر الدنیا و الآخرة» مصداق دي.

ناسم گام هېڅ کله سمې پایلې ته نه شي رسېدلی، ان که یې تر شا د مخلصو او پاکو خلکو ډېر لوی شمېر هم را ټول وي.

# یوه پرتلنه

صوفي نذير احمد كشميری

که د بودا له مړینې ۲۰۰ کاله وروسته اشوک بودایي مذهب نه وای منلی او د حضرت مسیح له دې دنیا نه له تلو ۳۵۰ کاله وروسته قسطنطین پاچا عیسویت ته غاړه نه وای ایښې، نو ډېر امکان نه برېښي، چې دغو مذهبونو به کوم تاریخي حیثیت خپل کړی وای او شاید دواړو مذهبونو به د خپل وخت د نورو مذاهبو (برهمن ایزم او یهودیت) د افراط او تفریط په خلاف د را پورته شویو ډلو نه ډېر ارزښت نه وو موندلی. خو که اسلام په خپله ابتدایي بڼه د سلو کلونو لپاره د فعالیت فرصت موندلی وای، نو په کومه بڼه چې وروستي پیغمبر حضرت محمد ص د دې دین بنیاد ایښی و، چې یوازې د حضرت ابو بکر او حضرت عمرؓ د خلافتونو تر پای ته رسېدو پورې په خپل حال پاتې و، نو دا خبره په ډېر ډاډ سره کولی شو، چې نبایي د دنیا لویه برخه به مسلمانه شوې وه او د «کان الناس امة واحدة» عملي انځور به څوارلس سوه کاله مخکې لا لیدل شوی و. خو د ملوکیت د زماني دوام اسلامي ملت د «کنتم خیر امة اخرجت للناس» او «لتکونوا شهداء علی الناس» له مقام نه را وغورځاوه او د یوه دنیوي ملت په توگه یې کټ مټ د بني اسرائیلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


او برهمنو غونډې د پښتپالنې، حسد، کينې او نفرتونو قرباني کړ. د دې بدبختۍ لومړنی مسؤوليت خو د بنو اميه غاړې ته ور لوېږي او وروسته بيا بنو هاشم تر نن ورځې پورې دې بدبختۍ ته د بقا وزرې ورکړې. ګواکې هغه ملوکيت چې بودايت او عيسويت يې په نړيوالو اديانو بدل کړل او په ټوله دنيا کې يې وځلول، هماغه ملوکيت د اسلام د نړيوالتوب پر وړاندې تر ټولو لوی خنډ وګرځېده.

په دې سربېره، دا هم يوه غمناکه پرتلنه ده، چې مسيحي راهبانو خو د کشف، رؤيا او الهام په مټ د خپل دعوت لوری له بني اسرائيل نه د ټولې نړۍ په خوا بدل کړ، مګر د اسلامي ملت د کشف او رؤيا خاوندانو د خپلو کشفياتو او رؤياوو په مټ اسلامي ملت له خپل نړيوال رسالت نه منحرف کړ او د يوه داسې باطنيت لوري ته يې ور مخه کړه، چې په امت کې يې نړيوال اختلافونه وزېږول او د خوب او خيال يوه بېله نړۍ يې ودانه کړه.

## شاته تګ هم کله نا کله لوی اقدام وي، خو پر دې يوازې د لويو زړونو خاوندان پوهېږي

د نبي کريم ﷺ له وفات (۱۱هـ) وروسته تر شلو کلونو پورې اسلامي فتوحات ډېر برلاسي روان وو. هره مياشت به د يوې لويې سيمې د فتحې خبرونه راتلل. خو د دريم خليفه د شهادت (۳۵هـ) له لاسه چې خپلمنځي جګړې پيل شوې، نو شاوخوا تر لسو کلونو پورې د فتوحاتو لړۍ ودرېده. هغه شخص چې دغه بنده دروازه يې بېرته

پرانيسته، حضرت امام حسن رض و. په ۴۱هـ کې له خلافت نه تېرېدل په سترګو کې د عمل له ميدان نه د شاته تلو پرېکړه وه. خو دې شاته تګ د اسلام په تاريخ کې د اقدام او عمل نوي فرصتونه وزېږول.

حسن بن علي بن ابي طالب د دريم هجري کال په شعبان کې نړۍ ته راغی. په ۵۰م هجري کال ربيع الاول کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه. دی د خپل پلار د شهادت په وخت کې ۳۷ کلن و. د ده پلار حضرت علي﵁ په ۴۰م هجري کې د روژې میاشتې په اوولسمه په کوفه کې په شهادت ورسېده. دا مهال یوازې عراق او ایران د حضرت علي﵁ په خلافت کې پاتې و. له دې نه علاوه په یمن، حجاز، شام، فلسطین، مصر او داسې نورو سیمو کې د امیر معاویه واکمني وه. د حضرت علي﵁ د خلافت په سیمو کې هم ډېر خلک د پردې تر شا د ده مخالف و. د حضرت علي له شهادت وروسته خلکو له امام حسن سره د خلافت بیعت وکړ، په دې چې حسن د حضرت علي﵁ مشر زوی و.

حضرت حسن د حالاتو نزاکت ته په کتو د خلافت مسؤلیت ته اوږې ورکړې. خو دا چې د اقتدار هوس ورسره نه و، نو ډېر ژر دا ورته روښانه شوه، چې په اوسنیو حالاتو کې په خلافت ټینګار کول به یوازې د ملت د ماتوالي په معنا وي. یو ځل حضرت حسن د یوه واقعبین انسان په حیث خپل کشر ورور حضرت حسین ته ویلي و، چې «زه پوهېږم چې نبوت او خلافت دواړه زموږ په کورنۍ کې نه شي سره یو ځای کېدلی.»

د همدې نزاکت له امله یې د بیعت په وخت کې له خلکو دا لوظ اخیستی و، چې «زه چې له چا سره جنګېږم، تاسو به ورسره جنګېږئ؛ او زه چې له چاسره سوله کوم، تاسو به ورسره سوله کوئ.»

له حضرت علي﵁ نه وروسته د کوفې خلکو حضرت حسن خپل خلیفه وټاکه. بلې خواته د حضرت امیر معاویه لپاره د حضرت علي﵁ له دې دنیا نه تلل یو ډول د ده پرمخ د لارې د خلاصېدو په معنا و. نو څرنګه یې چې د حضرت علي د شهادت خبر واورېده، د ځان لپاره یې د «امیر المؤمنین» لقب غوره کړ او پرېکړه یې وکړه، چې پاتې اسلامي سیمې (عراق او ایران) هم د خپلې واکمنۍ په قلمرو کې ور ګډې کړي. امیر معاویه د بیعت له تجدید وروسته له شپېته زره لښکر سره له دمشق نه کوفې ته حرکت وکړ. کوفې ته له نږدې کېدو دمخه یې امام حسن ته پیغام واستوه، چې له جګړې نه بهتره ده، چې تاسو له ماسره سوله وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ما د وخت خلیفه ومنئ. له امام حسن سره هم دې وخت کې شپېته زره لښکر و، چې د جګړې لپاره اماده و. خو امام حسن دا اړینه ولیدله، چې مسلمانان له خپل منځي وینو تویولو څخه وژغوري. ده د خلافت له حق نه لاس واخیست او یوازې له شپږ میاشتې خلافت وروسته یې د امیر معاویه په لاس د کوفې په جومات کې بیعت وکړ.

د امام حسن د جذباتي ملاتړو لپاره دا «ذلت» د زغملو نه و. هغوی د دې پرېکړې پر خلاف ډېره زیاته غوغا وکړه. امام حسن ته یې د عار المسلمین (د مسلمانانو پېغور) خطاب وکړ، ویې ویل چې امام حسن کافر شوی دی، کالي یې ور څیري کړل، تر دې چې د توري ګوزار یې پرې وکړ. خو امام حسن په هېڅ حال کې هم د مقابلې او مبارزې سیاست ته زړه ښه نه کړ. او ویې فرمایل:

«خلافت که د معاویه بن ابو سفیان حق و، نو هغه ته ورسېده. او که زما حق و، نو ما هغه ته ور وباښه.»

د یوه تن د شاتګ پایله دا شوه، چې د مسلمانانو خپلمنځي اختلاف، په خپلمنځي نظم او نظام بدل شو او ۴۱ هجري کال چې په اسلامي تاریخ کې به یې د صفین او جمل له جګړو وروسته د دریمې سترې وینلړلې جګړې نوم په برخه شوی و، په عام الجماعت وبلل شو او د اختلاف کال د اتحاد په کال بدل شو. د مسلمانانو هغه ځواک چې په خپل منځي جګړو کې به له منځه تللی و، د اسلام د دعوت او تبلیغ په هڅو کې وکارول شو. حقیقت دا دی، چې کله نا کله شاتګ اصلاً د مخکې تګ په معنا وي، خو ښایي ډېر کم خلک به په دې حقیقت پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب نړۍ

د اوسني عصر په هندو مفکرینو کې سوامي ویویکانند (۱۹۰۲ – ۱۸۶۳) یو مشهور نوم دی. ده په ۳۹ کلنۍ کې ډېر ژر له دې نړۍ سترګې پټې کړې. خو ویویکانند هغه لومړنی شخص و، چې په انګریزي ژبه کې یې هندو فلسفه تشریح کړه او په غربي نړۍ کې یې د یاد اسیایي مذهب د تبلیغ ابتدایي بنیادونو کېښودل. تر دې پخوا پخپله په غرب کې هم داسې مفکرین را پورته شوي و، چې غرب یې له هندو فلسفې سره اشنا کړ، چې په مثال کې یې شوپنهاور (۱۸۶۰ – ۱۷۸۸)، ایمرسن (۱۸۸۲ – ۱۸۰۳) او میکس مولر او داسې نور یادولی شو. خو پخپله د هند له لوري په دې ډګر کې لومړنی د یادونې وړ نوم ویویکانند دی. په ۱۸۹۴ کې دی د شیګاکو پارلمان ته ورغی او د یوه اجنبي مذهبي مشر په حیث ودرېده او خپله وینا یې په دې ټکو پیل کړه: د امریکا خویندو او ورونو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



SISTERS AND BROTHERS OF AMERICA!

د مخاطب کولو دا انداز یې دومره ځانګړی و، چې تر څو دقیقو پورې په ټول تالار کې د لاسونو پړکا وه. د امریکا وګړي چې د آغلو او ښاغلو (لیډیز او جنټلمن) په څېر وچو عبارتونو سره عادي و، له وروی ډک دې خطاب ډېر زیات اغېزمن کړل. په دې سفر کې ویویکانند تر یوې مودې په امریکا کې لیکچرونه ورکړل او هلته یې د لومړنې ویدیک مرکز بنسټ کېښود.

په دې وروستیو کې د سوامي ویویکانند د انګریزي لیکونو ټولګه په ۴۵۰ مخونو کې چاپ شوه. په دې ټولګه کې یې ډېر دلچسپ لیکونه راغلي، چې د سوامي صاحب د ژوند او افکارو په اړه ډېرې زیاتې خبرې راته لري. دلته یې مورږ د ۱۷۵مې شمېرې لیک ترجمه را اخلو. سوامي صاحب دا لیک له الموړه سیمې نه په ۱۰ جون ۱۸۹۸ کې لیکلی دی:

«ادویتا (یاني په خدای او مخلوقاتو کې ثنویت نشته، ټول یو دي) په مذهبي او فکري نړۍ کې وروستی حرف او یوازنی دریځ دی، چې یو شخص ترې ټولو مذاهبو او فرقو ته د مینې په سترګه کتلی شي. زه یقین لرم، چې په راتلونکي کې به د روښنفکر انسانیت مذهب همدا ادویتا وي. هندوانو ته دا امتیاز ورکولی شو، چې دوی له نورو نه مخکې دې نظریې ته ورسېدل. خو عملي ادویتا چې ټول انسانیت ته د ځان په سترګه وګوري او د ځان غوندې برخورد ورسره وکړي، په هندوانو کې هېڅ کله نه ده پیدا شوې. بلې خواته زما تجربه دا ده، چې که کوم مذهب تر کافي بریده دې مساواتو ته رسېدلی شي، نو هغه اسلام او صرف اسلام دی. له همدې کبله زه په دې فکر یم، چې د عملي اسلام له مرستې پرته، د ویدانت نظریات که هر څومره غوره او هیښوونکي هم وي، د ټول انسانیت لپاره بې ارزښته دي یا بې ارزښته کېدلی شي. زموږ د مور وطن لپاره، چې د دوو سترو نظامونو هندویزم او اسلام د یووالي مرکز دی، د ویدانت مغز او د اسلام جسم یوازینی هیله ده.

زه یې د خپل زړه په سترګو وینم، چې د مستقبل روغ هندوستان له اوسنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډوډيو او اختلافونو راوتلی او پرتمين او نه ماتېدونکی هېواد ترې جوړ شوی، چې ترشا يې د همدې ويدانتي مغز او اسلامي جسم لاس دی.

I SEE IN MY MIND'S EYE THE FUTURE PERFECT INDIA RISING OUT OF THIS CHAOS AND STRIFE, GLORIOUS AND INVINCIBLE, WITH VEDANTA BRAIN AND ISLAM BODY.

بې له شکه چې په ادويتاايزم (د خدای او مخلوق ترمنځ د يووالي په نظريه) کې فلسفيانه ښکلا شته ده. خو دا هم يو حقيقت دی، چې له انساني ورورګلوي سره يې هېڅ ډول نېغه راشه درشه نشته، حال دا چې د پخوا زماني فيلوسوفانو په همدې موخه د دې نظريې بنياد ايښی و. حقيقت دا دی، چې د وحدت الوجود په پرتله د وحدت اله او د بني آدم د وحدت عقيده د انساني ورورګلوی او مساواتو لپاره بالکل کافي بنياد دی، او د اسلام تاريخ لړ تر لره د تجربې تر بريده، د دې خبرې ډېر واضح ثبوت راکوي.

د ورورګلوي او مساواتو فکري بنياد هغه مهال په لاس راځي، چې کله په دې پوه شو، چې ټول انسانان د يوه آدم اولاده دي. له دې وروسته دا مهمه نه ده، چې د نسب سلسله تر خدايه پورې ورسوو. اصلي مسئله د مخلوق او مخلوق ترمنځ د اختلاف او تفرقې له منځه وړل دي، نه د مخلوق او خدای ترمنځ. نو ځکه په نسلي بنياد مو چې د مخلوق يو رنګي ومنله، نو دغه مقصد مو هم ترلاسه کړ. له دې وروسته دغه اړيکه تر خدای پورې رسول، له مقصودي پلوه يوه بې ګټې هڅه ده او له عملي پلوه د ثبوت او پوهاوي وړ هم نه ده.

بله خبره دا ده، چې د وحدت وجود نظريه چې ومنو، نو بيا يوازې خدای او انسان د يوه کل اجزا نه جوړېږي، بلکې انسان او لېوه هم په يوه سطحه کې راځي، هغه که بيا انساني لېوه وي يا حيواني لېوه. په دې معنا چې د اختلاف او تصادم مسئله چې اصل مقصود وه، هغه په يوه نوي بڼه ببرته زموږ مخې ته درېږي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلام یو نوی ځواک ور پېرزو کړ

فریده خانم

خنساء (۲۴ ه) د اسلامي دورې شاعره وه. اصلي نوم یې تُماضِر بنت عمرو بن الثرید سُلَمیة دی. خنساء یې لقب و. وروسته په همدې نوم مشهوره شوه.

خنساء په لویه کورنۍ کې نړۍ ته راغله. پلار یې د مضر د قبیلې د بنو سلیم مشر و. دوه ورونه یې د جاهلیت په جګړو کې ووژل شوو. دې پېښې ډېره ودردوله. د خپلو ورونو له مړینې مخکې یې تر دوو یا درېو شعرونو ډېر نه شوی ویلی. خو چې هغوی ووژل شوو، له سترګو نه یې اوښکې او له زړه نه یې شعرونه را وورېدل. په دواړو ورونو، په تېره صخر پسې یې خورا دردناکې مرثیې ولیکلې. خنساء به پرلپسې مرثیې ویلې او ژړل به یې، تر دې چې د دواړو سترګو دید یې ختم شو.

د مکې له فتحې وروسته له خپلې قبیلې سره نبي کریم ص ته راغله او د اسلام تېکری یې په سر کړ. ویل کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پیغمبر ﷺ ته یې خپل څو شعرونه وویل، پیغمبر ﷺ ډېر زیات ورنه متاثر شو او ویې فرمایل: «نور هم ووایه خنساء»، بیا یې څو نور شعرونه هم ورته زمزمه کړل.

خو د پیغلتوب په زمانه کې چې کومې ښځې د خپل ورور مرګ ونه شو زغملی، اسلام دومره ځواک ور وباښه، چې په زړبودن کې یې خپل ټول زامن د خدای په لاره کې قربان کړل. څلور زلمي زامن یې و. څلور واړه یې د قادسیې جګړې ته اماده کړل. څلور واړه ولاړل او څلور واړه په جګړه کې شهیدان شوو. کله چې خبره شوه، چې زامن یې شهیدان شوي، نو د ژړا او وېرنو په ځای یې ډېر په صبر او سکون دا خبره واورېده او بیا یې وویل، «د هغه خدای شکر په ځای کوم، چې د خپلو زامنو په شهادت یې ماته عزت را وباښه او په دې هیله یم، چې هماغه خدای به مې له هغوی سره یو ځای کوي.»

*په ۱۸۸۴ کې سید جمال الدین افغاني او مفتي محمد عبده په پارس کې وو، دوی په دې خبره پوه وو، چې لوی کار دا دی، چې په غربیانو کې باید اسلام خپور شي او د دې کار مؤثره لاره قرآن کریم دی. خو دوی او له دوی وروسته ټولو د*

*نبي ورتیا خاوندانو خپل عمرونه او ابزار و وسایل په بې معنا غونډې سیاسي مبارزو او غوغاوو کې ضایع کړل.*

سید جمال الدین افغاني وویل: که د اروپا خلکو ته په سمه توګه د اسلام دعوت وشي، نو دوی د اسلام منلو ته پوره اماده دي، ځکه اروپایانو چې اسلام او نور ادیان په مقایسوي میتود وځېړل، نو ویې لیدل چې په عقیده او عمل کې د اساني له مخې په دواړو کې ډېر زیات فرق دی. او په لویدیځو قومونو کې د اسلام منلو ته تر ټولو ډېر نږدې خلک د امریکا وګړي دي. د دې وجه دا ده، چې د دوی او اسلامي ملتونو ترمنځ هغسې پخوانۍ دښمنۍ نشته، چې د مسلمانانو او اروپایي قومونو ترمنځ موجودې دي.

اسلام ته د غربیانو د پام کولو لپاره تر ټولو لویه ذریعه قرآن دی. د قرآن دعوت د سوچه اسلام په لور بلنه ده. خو دوی چې د قرآن کریم د منونکو ویجاړ حالت ته ګوري، نو له دې امله له قرآن کریم نه واټن نیسي. اوس که موږ غواړو، چې نور قومونو اسلام ته را مات شي، نو لومړی باید پر هغوی حجت ودروو، داسې چې موږ خپل ځان په اسلامي صفاتو ورنګوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نه وي، بیا خپل ځان پوره مسلمان نه شو ګڼلی.

د قرآني لارښوونو د فضایلو په هکله سید افغاني وویل: همدا قرآن هغه کتاب دی، چې له فلسفي لارې یې حقایقو ته د رسېدو لاره روښانه کړه. د قرآن کریم په ګڼو آیتونو کې دا ډول پوښتنې راغلي دي، چې داسي ولې، هغسې ولې؟ او له مخاطب نه غوښتل شوي دي، چې دې پوښتنو ته معقول ځوابونه ووايي. او فلسفه له دې ډول پوښتنو پرته بل هېڅ هم نه ده.

دوی وویل: د قرآن کریم له نزول مخکې عرب خلک په ډېر لوېدلي حالت کې وو. خو ۱۵۰ کاله نه و تېر شوي، چې د خپلې زمانې اباده نړۍ یې فتحه کړه. او د نړۍ له نورو اقوامو نه په سیاست، علم، فلسفه، صنعت، تجارت او هر شي کې وړاندې ولاړل، او په خدای قسم دا ټول د قرآن کریم برکت و. هغه قرآن چې د پخوانیو قومونو د هدایت لپاره کافي و، نو نن ورځ هم دا کتاب د اوسنیو قومونو د هدایت لپاره بالکل کافي دی.

سید جمال الدین لوی عالم و او د اسلام او مسلمانانو په حقیقت یې ډېر ښه ځان پوه کړی و. له ده نه خلکو ته ډېره زیاته ګټه رسېدلې شوې. خو ده خپل ټول پام سیاست ته واړاوه او پایله یې دا شوه، چې د ده استعداد او وړتیاوې بېکاره ولاړې.

زه حیرانه یم، چې په اوسنۍ زمانه کې ټول د ښو وړتیاوو مسلمانانو او د دوی مهالنیو خپرونو خپله ټوله توجه سیاست ته اړولې ده او د تعلیم او تربیې له کار نه یې مخ اړولی دی، چې تر بل هر شي ډېر مهم او د نورو ټولو شیانو د ملا تیر جوړوي.

سید جمال الدین د ډېرو عجیبو او نادرو کمالونو سړی و. که دوی د تعلیم او تربیې په برخه کې کار کړی وای، نو اسلام ته به یې ډېره زیاته ګټه رسولې وه. زه چې په پاریس کې وم، نو دا خبره مې ورته وکړه، چې «له سیاست نه به تېر شو او د حکومت له سترګو لرې د زلمیانو او ځوانانو تعلیم او تربیې ته به کار ووایو. که داسې وکړو، نو په لسو کلونو کې به زموږ یوه ډله اماده شي او دغه ډله به په ټوله نړۍ کې د اصلاح او تبلیغ کار په ډېر بریالیتوب سره سرته ورسوي.» خو ده ځواب راکړ، چې «ته حوصله ماتوونکې خبرې کوې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا بريا يوازې د جذباتي اقدام پايله نه وه، دا بريا د سنجول شوي پلان په مټ ترلاسه شوه

«بحر ظلمات میں دوڑا دیئے گھوڑے ہم نے» د علامه اقبال د دغي مسرې په خبر خبرو، چې د ظلمتونو په بحر کې مو اسونه وځغلول په مسلمانانو کې د جذباتي او بې سنجشه اقدامونو ذهنيت روزلی دی. حال دا چې پخپله په دې شعر کې يوې داسې پېښې ته اشاره شوې ده، چې هغه يو سنجول شوی اقدام و، د جذباتو په تاثر کې وهل شوی خېز نه و.

په ١٦ هـ کې اسلامي لښکر د سعد بن وقاص په رهبرۍ د عراقي سيمو په فتحو کې بوخت و. د بهره شير له فتحې وروسته يې مخې ته د دجلې سيند غځېدلی و او بلې خوا ته يې د ايرانيانو مهم ښار «مداين» و او هلته ايرانيانو ډېره مضبوطه کلا جوړه کړې وه. ايرانيانو له بهره شير نه د تېښتې پرمهال د دجلې پل مات کړ او تر لرې لرې ساحو پورې يې يوه کښتۍ هم روغه پرې نه ښوده، چې اسلامي لښکر له سيند نه پرې تېر شي.

سعد بن وقاص په سبا ورځ په خپل اس سپور شو او په دې خبره سيند ته ور کوز شو:

نستعين بالله ونتوكل عليه حسبنا الله ونعم الوكيل ولا حول ولا قوة الا بالله العظيم. «له خدايه مرسته غواړو، پر هماغه توکل کوو. خدای راته کافي دی او هماغه غوره مرستندوی دی. له ستر خدای پرته له هيچا سره هم ځواک او قوت نشته.»

د سعد بن وقاص په ليدو نور کسان هم زړور شوو او ټول لښکر له خپلو اسونو سره سيند ته ور ګډ شو. لښکر له نيمايي نه ډېر له سيند نه تېر شوی و، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وخت کې ایراني لښکر، چې د سیند بلې غاړې ته ولاړ و، د غشیو باران پرې ووراوه.

په سیند کې ولاړ لښکر د دې ناځاپي مصیت مقابله نه شوی کولی. نو هغه څه و، چې دا پوځ یې له تباه کېدو وژغوره؟ دا کوم تصادف نه و، او نه مازې د جذباتو معجزه وه. یو سنجول شوی پلان و او هر څه چې وشول، ټول د هغه پلان له مخې و، چې له مخکې نه یې سنجولی و.

د دې حالت له پېښېدو وروسته سعد بن وقاص منظمه مشوره وکړه. سره له دې چې سعد بن وقاص په الهي نصرت باندې د باور له مخې سیند ته ور کوز شوی و، خو په خوا کې یې ټول حالات په بشپړ ډول څېړلي او د راغلي آفت اټکل یې دمخه لا لګولی و. تاریخ راته وایي، چې کله چې سعد بن وقاص په سیند باندې د اس د ور ګډولو اراده وکړه،

نو خپل لښکر ته یې وویل، «په تاسې کې داسې زړور مشر څوک دی، چې د خپلې ډلې په ملتیا دا ژمنه وکړي، چې له سیند نه د تېرېدو په وخت به مو د دښمن له احتمالي برید نه وژغوري.» ایراني پوځونو چې د دجلې په سیند کې پر نښتي اسلامي لښکر غشي ورول پیل کړل، نو د عاصم بن عمرو ډلګۍ سمدستي لاس په کار شوه. دې ډلګۍ په ایراني غشي ویشتونکو پرلپسې دومره زورور غشي وار کړل، چې هغوی یې دفاعي حالت ته اړ ویستل. ایراني سرتېري په لوی شمېر ټپیان او هلاک شول، تر دې چې د تېښتې لاره یې ونیوله. په دې شېبو کې اسلامي لښکر له سیند نه واوښت او بلې غاړې ته ورسېده، او هلته یې پر ایراني لښکر له سخت یرغل وروسته د مداین ښار ونیوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اختلاف زيان تر کومه رسيږي

له عربستان نه د اسلام سېلاب راپورته شو او په شاوخوا هېوادونو داسي خپور شو، چي د هغو ژبه او تمدن يې هم ور بدل کړل. دا پېښه يوازې يوه استثناء لري، او هغه ايران دی. په تاريخ کي يو مهم سوال دا دی، چي اسلام د خپلو ګاونډيو هېوادونو ژبه او تهذيب ور بدل کړل، خو په ايران کي يې د مذهبي بدلون په برخه کي له کاميابېدو سره، سره د هغې سيمې ژبه وربدله نه کړه.

د دې سوال ځواب د امويانو او عباسيونو په سياسي جګړو کي لټولی شو. د اموي خلافت په ځای د عباسي خلافت د پاڅون غورځنګ په دوهمه هجري پېړۍ کي پيل شو. په دې غورځنګ کي يوې خوا ته هغه خلک وو، چي له سياسي ارادو سره را پورته شوي وو، چي د دې ډلې مشر محمد بن علي بن عبدالله بن عباس بن مطلب و. بلې خوا ته مذهبي خلک وو، چي د اصلاحي جذبې له مخې يې په دې غورځنګ کي ګډون کړی وو. عبدالله بن محمد بن حنفيه بن علي بن ابي طالب په همدې دوهمې ډلې پورې تعلق درلود. د محمد بن علی زوی ابراهيم و، چي په ۱۲۴هـ کي د خپل پلار له مړيني وروسته د دې غورځنګ «امام» وټاکل شو. ابو مسلم خراساني چي د عباسي سلطنت په قيام کي يې مهمه ونډه درلوده، يو عادي کاريګر و، چي د اسونو زينونه به يې جوړول. د ابو مسلم غوره شخصيت او ښې جوړې صلاحيت ته په کتو امام ابراهيم دی د خپل هدف لپاره وګماره او د خپل استازي په توګه يې خراسان ته ولېږه.

عباسيانو چي غلبه ومونده، نو د بنو اميه په فرد، فرد پسي وګرځېدل او له تېغه يې تېر کړل. تر څو په راتلونکي کي يې سياسي واک ته هېڅ ډول ګواښ پاتي نه شي. په دې زمانه کي امام ابراهيم، ابو مسلم ته ډېر په ټينګار وليکل، چي «په خراسان کي هېڅ عربي ژبې ژوندۍ مه پرېږده.» په خراسان کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بنو امیه پلویان همدا عرب قبایل وو، چې د خراسان له فتحې وروسته یې هلته استوګنه غوره کړې وه. له دې پرته د خراسان اصلي وګړي، چې نوي مسلمانان شوي وو، هغوی په اسانه عباسي واک ته غاړه ایښودلی شوه. خو ډېره اندېښنه له عرب قبایلو وه، چې هسې نه د عربیت له امله د بنو امیه ملاتړ وکړي او د نوو واکمنو لپاره سرخوږی جوړ کړي.

ابو مسلم ایراني نسله و او له دې امله ده خپله هم غنوښتل، چې خپل هېواد د عربو له استیصال نه وژغوري. د امام ابراهیم عباسي له لاربښوونو وروسته خو ابو مسلم د خپلې خوښې په دې کار کې لا ډېر زړور شو. ده په خراسان کې ټول عربي مېشته وګړي له یوې مخې ختم کړل. دا عرب قبایل چې په خراسان کې اباد و، د نورو ګاونډیو هېوادونو په څېر دلته هم په دې هڅو کې وو، چې د دې سیمې ژبه، کلتور او تمدن هم عربي کړي. دوی د دې سیمې د مذهب په بدلولو کې خو بریالي شوي وو او اوس د ژبې او تمدن د بدلون عمل په ډېر بریالیتوب سره روان و، خو د ابو مسلم له لورې ډله ییزې وژنې دې ټول عمل ته د پای ټکی کېښود. ایراني ژبه او ایراني تمدن بېرته د مرګ له خولې ژوندی راووت. ایران او خراسان چې د مصر، شام او عراق غوندې به نن ورځ د عربي نړۍ برخه وه، بېرته یو فارسي وطن شو.

په تاریخ کې ډېر څله داسې پېښې شوې دي، چې د سیاسي سربازانو د سیاست بازیو له لاسه د سمون او رغونې ډېر اړین کارونه نیمګړي پاتې شوي او وروسته یې خورا دردوونکې پایلې لرلې دي. د څو کسانو د لنډمهاله خواهشاتو او غرایزو له امله قومونو او هېوادونو تر پېړیو پېړیو پورې ډېر بد وضعیت ګاللی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پند شېبې

د لویدیځ پاکستان والي امیر محمد خان (مړ ۱۹٦۷ء) په اروپا کې د زراعت په ځانګه کې لوړې زدکړې کړې وې. د ولسمشر ایوب د حکومت په دوره کې په پاکستان کې د «زرغون انقلاب» لپاره هسکه شمله باید امیر محمد خان ته ور وتړو، چې په دې وخت کې د پاکستان د خوړو او کرنې د کمیسون مشر و او وروسته د خپلو خدمتونو لپاره د والي مقام ورکول شو. امیر محمد خان د مشرقي تمدن یوه بشپړه بېلګه وه. دی د ولایت په مقام کې په روژې او لمانځه کلک ولاړ انسان و او د کور ښځې به یې همېش په پرده کې اوسېدې.

د پاکستان په دریم پلان کې چې د نفوسو د کنټرول په خاطر دېرش کروړه بودیجه ځانګړې شوې وه، نو امیر محمد خان یې ډېر سخت مخالفت وکړ. خبره ډېره لویه شوه، تر دې چې صدر ایوب په ډېره زښته ژبه وویل، چې که نفوس مو کنټرول نه کړ، نو یوه ورځ به داسې راشي چې د غلې د کمښت له لاسه به یو پاکستانی، بل پاکستانی ژوند کباب کړي او وبه یې خوري. خو د خوشالي ځای دا دی، چې په دې وخت کې به زه ژوندی نه یم.

امیر محمد خان پر سپتمبر ۱۹٦٦ کال کې د والي له دفتر نه استعفا ورکړه. او خپل پلرني ټاټوبي کالاباغ ته راستون شو. دلته یې کښتونه او باغونه وو. خو په کاله کې یې د ځمکو په سر لانجې را پورته شوې. بلاخره یوه ورځ ده پخپله د خپل زوی ملک محمد اسد خان په خلاف ټوپک راپورته کړ. په خپل زوی یې ډز وکړ، خو مرمۍ یې د زوی اوږه ټیپې کړه او ترې تېره شوه. اوس د زوی نوبت و. زوی یې شپږ مرمۍ د پلار په سینه کې ور خښې کړې. امیر محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان ځای په ځای ساه ورکړه.

هغه شخص چې د نفوسو کنټرول يې ناروا باله او د همدې په سر يې ګورنرۍ پرې ايښې وه، د خپل زوی په خلاف توپک په لاس ودرېده، سره له دې چې په دې نښته کې ځوان زوی په بوډا پلار برلاسی شو او پايله يې په برعکس شکل راووته.

مولانا شبلي نعماني (۱۸۵۷ – ۱۹۱۴) اتيا کاله پخوا په خپل کتاب الکلام کې ليکلي و، چې د «راتلونکي نړۍ» وجود د عقل په مټ نه شو ثابتولی. تر دې پخوا امام غزالي هم دا خبره کړې وه. خو نن ورځ د موجوده دنيا په څېر د بلې دنيا وجود يوه ثبوت شوې پديده ګرځېدلې ده.

لاندې مو يوه بشپړه مقاله راوړې او دا مقاله د دې يو مثال دی، چې عصري علومو په څه ډول هغه مذهبي حقايق «په عقلي ډول» په ثبوت رسولي، چې پخوا يوازې د قياسي بحثونو سوژې ګڼل کېدلې.

د ساينسي روڼونو په مټ حقيقت لټوونکي اوسمهال په دې نظر دي، چې کاينات جوړه يي خاصيت لري. زموږ د دنيا په خوا کې يوه بله دنيا هم شته، چې له اوسنۍ دنيا سره متوازي خپل بېل وجود لري. هغه دنيا زموږ له دنيا نه ډېره پاياداره ده، خو دا چې هغه دنيا د دې دنيا، ضد ده، نو ځکه هغه بله دنيا په سترګو نه ليدل کېږي.

دا هماغه خبره ده، چې په قرآن کريم کې ۱۵۰۰ کاله پخوا شوې وه. قرآن ويلي و، «او د هر شي مو جوړې پيدا کړې دي چې تاسې نصيحت واخلئ. هر شی چې جوړه لري، نو د دې دنيا جوړه چېرته ده، چې دواړه سره يو ځای شي او بشپړ شي. (ذاريات – ۴۹)

د دنيا دغه جوړه (آخرت) پنځويشت کاله پخوا يوازې يوه قياسي خبره وه، خو نوي علم د ساينسي روڼونو په مټ د هغې وجود په ثبوت ورساوه. دې ته ورته ډېرې نوې موندنې دي، چې په اوسنۍ زمانه کې يې الحاد په يوه بې بنياده خبره بدل کړی دی، او که د دې روڼونو په مرسته علمِ کلام ترتيب شي، نو دا به د لرغوني علم کلام په مقابله کې داسې وي لکه د تلوار په مقابله کې اټوم بم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلته یوه بله مخفي دنیا ده چې زموږ له نړۍ سره متوازي وجود لري

تر ۱۹۲۸ کاله پورې ساینسپوهان په دې اند وو، چې اتوم یوازې د دوه ډوله ذراتو مجموعه ده: پروټون چې مثبت چارج لري او الکټرون چې منفي چارج لري. خو په همدې کال پال ډیراک، چې مبتکر او ریاضیکي ساینسپوه و، د ذراتو په اړه یوه نوې نظریه وړاندې کړه او د نوي قسم ذراتو د امکان خبره یې وکړه، چې تر اوسه پورې تجربي ساینسپوهان ترې ناخبره وو.

ده وویل، چې «د دې ذرې کتله د الکټرون په اندازه ده، خو چارج یې له الکټرون سره مخالف دی، او دې ذرې ته انتي الکټرون نوم کارولی شو.» په ۱۹۳۲ کې انتي الکټرون کشف شو. کې اندرسن دغه الکټرون په کایناتي وړانګو کې کشف کړ او پازیټران نوم یې پرې کېښود. دا لومړنۍ انتي ذره وه، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان وپېژندله. له هغې ورځې تر ننه پورې له ۳۵ نه ډېر د اټوم ابتدايي ذرات پېژندل شوي او که د هستې ټولې ذرې وشمېرو، نو شمېر يې ۲۰۰ ته رسېږي، ځکه چې د اټوم هره ذره يوه ضد ذره هم لري. پروټون يو ضد پروټون هم لري. نيوټرون يو انټي پروټون هم لري او داسې نورې ذرې هم. په دې برخه کې تر دې دمه يوازې درې استثناوې منل شوې دي: فوټون او دوه ډوله نورې ذرې.

د جوړه يي ذرو بنيادي خاصيت دا دی، چې کله له يو بل سره يو ځای شي، نو دواړه يو بل فنا کوي، خو دغه فنا د مادې د کلي فناکېدو په معنا نه وي، هغسې چې ځينې فيلوسوفان فکر کوي. په ساينس کې د «فنا» اصطلاح په دې معنا کارېږي، چې يوه ابتدايي ذره د مادې يا انرژي په يوه بل شکل باندې بدلېږي. مثلا د پروټان شکل هم اخيستلی شي، چې په صفر کتلې کې موندل کېږي. د مثال په ډول پازيټرون چې له الکترون سره ټکر وکړي، نو سمدستي يو بل فنا کوي او دوه فوټونونه منځته راځي. د دې معنا دا ده، چې د اټوم او انټي اټوم ټکر په خورا لوړه کچه انرژي توليدوي. په اصل کې د مادې او انټي مادې د فنا کېدو په پايله کې له يورانيم نه د توليد شوې انرژي په پرتله زر چنده او د ترمو هستوي انرژي په پرتله ۱۳۳ چنده ډېره انرژي توليدېږي، چې په دې ډول به يوه ورځ انسان وتوانېږي، چې د انرژي نه ختمېدونکو سرچينو ته لاسرسی پيدا کړي.

يو ځل مو چې انټي ذره ومنله او وجود يې په ثبوت ورسېده، نو طبعا د دې نتيجه دا ده، چې ساينسي فکر به انټي هسته او انټي اټوم هم په نظر کې نيسي. مثلا په يوه انټي هايډروجن اټوم کې به د منفي چارج يو انټي پروټون هم وي او په شاوخوا کې به يې د مثبت چارج الکترون (پازيټران) هم تاوېږي. ديوتريوم، د هايډروجن يو آيزوټوپ دی، چې په خپله هسته کې يو پروټان او يو نيوټرون لري، خو اوس به د انټي ديوتريوم هسته له يوه انټي پروټون او يوه انټي نيوټرون نه رغېدلې وي. د همدې نږدې وختونو خبره ده، چې ساينسپوهانو انټي ديوتريوم هم کشف کړ. په دې باندې انټي اکسيجن، انټي اوسپنه او داسې نور هم قياس کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. طبيعي ده، چې له دې وروسته به بل ګام انتي ماده او انتي دنيا وي.

زموږ په دنيا کې ټولې انتي ذرې په بې ثباته شکل کې دي. خو په انتي دنيا کې به ټولې ذرې په ثابت حالت کې وي. ځکه چې د ټولو اټومونو هستې به منفي چارج لري او ټول الکترونونه به مثبت چارج لري. د انتي نړۍ وجود له عقل نه ډېره لرې خبره نه ده. له آره خو د دغه ډول انتي نړۍ د وجود امکان په لومړي ځل په ۱۹۳۳ء کې ډيراک په يوه ليکچر کې وښوده. خو تر اوسه پورې هېڅ ساينسپوه د دې خبرې پخلی نه دی کړی.

په دې لاره کې پراته مشکلات څه دي؟ په خپله دنيا کې موږ لرې شيان د فوټون په مرسته پېژنو، چې د برقي مقناطيسي وړانګو ذرې دي. اوس که انتي نړۍ وجود لري، نو هغه به هم له ځانه دغه ډول فوټونونه خپروي، چې په ورته وخت کې ذرې هم دي او انتي ذرې هم. انتي نړۍ که لرې وي يا نږدې، خو امکان يې شته چې رڼا يې د فوټون په شکل کې وي، چې مسلسل موږ ته را رسېږي. خو موږ دغه فوټونونه د خپلې مثبتې نړۍ د شيانو له نور څخه بېلولی او په سترګو نه شو ليدلی. په اصل کې نيوټرينونه بايد د انتي نړۍ په پېژندو کې راسره مرسته وکړي. خو نيوټرينونه او انتي نيوټرينونه خورا فراري ذرات دي او نيول يې ډېر مشکل کار دی.

ګڼشمېر ساينسپوهان په دې فکر دي، چې انتي نړۍ له موږ نه بېله او زموږ له نړۍ سره متوازي وجود لري. که کاينات يوازې د ذرې او انتي ذرې له پلوه نسبي نه وي، بلکې د مادې او انتي مادې له پلوه هم نسبي وي، نو بيا خو له انتي مادې نه جوړه شوې يوه بله دنيا هم بايد وجود ولري. د سترې چاودنې (Big Bang) نظريه په دې فرضيې ولاړ ده، چې شاوخو ۱۰ يا ۲۰ بيليونه کاله پخوا ټوله ماده په جامد حالت کې د ابتدايي اټوم په بڼه موجوده وه او د فوټون انرژي يې لرله. که کاينات په رښتيا متناسب وي، نو له لويې چاودنې سره به فوټون، د مادې او انتي مادې په حالتونو کې يو ځای شوي او د نړۍ او انتي نړۍ د جوړولو لپاره به وبله بېل شوي وي. دا نظريه لومړی ځل سويډني ساينسپوه آسکر کلين وړاندې کړه. د دغې نظريې په اساس مشهور ستورپوه هينز الفوين

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹٦۳ء کې د بېلوالي د میکانیزم احتمال ځرګند کړ، داسې چې په یوه کهکشان کې ماده او انتي ماده دواړه موجود وي. خو تر اوسه پورې د دغه میکانیزم تګلاره نه ده ټاکل شوې، چې له مخې يې دا معلومه شي، چې د یوه پېژندل شوي کهکشان په خوا کې دې بل انتي کهکشان هم وي او یا دې زموږ په نړۍ پورې تړلې یوه بله انتي دنیا هم موجوده وي.

تر دې ځایه پورې موږ په انتي نړۍ غور وکړ، چې یوازې منفي ماده په‌کې وي. دا د ډیراک انتي نړۍ وه. خو موږ پوهېږو، چې ټوله ماده او ټول جسمونه په مکان کې حرکت کوي او په زمان کې وجود لري. زموږ په دنیا کې دا درې واړه – ماده، زمان او مکان – مثبت دي. د ډیراک انتي نړۍ چې موږ یې په تلاش کې یو، هغه به یوازې منفي ماده وي، حال دا چې زمان او مکان به يې مثبت وي. خو د الجبر د منفي قیمتونو په څېر موږ د منفي زمان او منفي مکان احتمالي وجود هم منلی شو. په داسې حالت کې درې واړه توکونه – زمان، مکان او ماده – د انتي نړۍ اوه ببل وجودونه جوړوي. زموږ مثبته دنیا چې ورسره یو ځای شي، نو ټولټال اته وجودونه به شي. د انتي نړۍ له اوو وجودونو څخه یو یې، چې مکان، زمان او ماده درې واړه به يې منفي وي، په ظاهر کې تر ډېره پورې انتي نړۍ ده.

د شوروي اتحاد ډاکټر ګستاف نان د ریاضیاتو په مټ د منفي انتي نړۍ په هکله دومره پخې خبرې کړې دي، چې ان مخالفین يې هم د ډېر متوازن تصور په سترګه مني. د ډاکټر نان په انتي نړۍ کې هر شی – مکان، زمان او ماده – له یو بل نه په مخالف جهت کې د فرار په حال کې دي. له تیوریکي پلوه دا خبره ناممکنه نه ده. په دغه ډول انتي نړۍ کې هم هماغه فطري قوانین یا په بله وینا، د فطرت قوانین د عمل په حال کې دي، چې زموږ په نړۍ کې دي. خو موږ چې خپله دنیا پېژنو، نو بیا دا انتي دنیا چېرې ده؟ آیا نن ورځ موجوده ده؟ آیا د «لویې چاودنې» له ابتدایي اتوم نه پخوا موجوده وه؟ د دغې انتي نړۍ وجود موږ په دې ډول ډېر ښه درک کولی شو، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې انتي نړۍ کې هر څه په سرچپه حالت کې ومنو او بله دا چې دغه انتي نړۍ د ابتدايي اتوم په شکل کې جامده نه وه. بیا یو لوی انقلاب پېش شو، زمان ودرېده او انتي نړۍ د مثبتې نړۍ حالت غوره کړ او همدا نن ورځ زموږ دنیا ده.

د دغه ډول یوه حالت لپاره هېڅ شی هم ناممکن نه دي. مګر دوکتور نان وايي، چې دغه پېښه د ساینس د معلومو تیوریو او قوانینو په مټ نه شو بیانولی. دی په دې اند دی، چې هغه ضد دنیا نن ورځ هم شته ده، خو له موږ نه خپلواکه او زموږ له نړۍ سره متوازي خپل بېل وجود لري. د نړۍ او انتي نړۍ ترمنځ څه اړیکه ده؟ آیا د ارتباط یوه داسې آله شته، چې زموږ دنیا له انتي دنیا سره پرې تعلق ټینګ کړي؟ ماده او انرژي له «هېڅ» څخه نه شي پیدا کېدلی. او دا هم امکان نه لري، چې له اغېز پرېښودو پرته فنا شي. خو تاسو یو «بلیک هول» په نظر کې ونیسئ. بلیک هول له منځه تللی ستوری دی، چې د جاذبې زوروره قوه يې رڼا ته اجازه نه ورکوي، چې ترې خپره شي او په دې ډول دغه ستوری په سترګو نه لیدل کېږي. تر دې دمه یو بلیک هول هم د اثبات تر بریده نه دی پېژندل شوی، خو ډېری ستورپوهان په دې باور لري، چې کواسر او پولسار په اصل کې بلیک هولونه دي، چې د غازونو د اېکسرې وړانګو د خپرېدو له لارې خپل وجود راته ښيي.

د امکان له پلوه په کاینات کې وایټ هولونه (سپین غارونه) هم شته دي. د دغو غارونو په مرسته ماده یا وړانګې په یوه نا معلوم ډول په فضا کې خپرېدلی شي. خو آیا د بلیک هول او وایټ هول ترمنځ کومه اړیکه شته؟ و دې شي، چې یوه داسې وسیله به وي، چې دواړه به له یو بل سره نښلوي او د دې امکان هم شته، چې په بلیک هول کې غایبه شوې ماده به بېرته په یوه وایټ هول کې ځان ښکاره کوي. د دوکتور نان په اند، بلیک او وایټ هولونه د نړۍ او انتي نړۍ ترمنځ د مرکز په توګه منلی شو. خو تر دې دمه دا ټولې خبرې فرضيې دي. د نان په انتي نړۍ کې د منفي چارج جسمونه په زماني بعد کې سفر کوي. په دې معنا چې دغه نړۍ د معکوس زمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاینات دی. بنایي کاینات او انتهي کاینات به له یو بل سره په یوه ترلي او یو بل پورې بل تعلق لري. هره دنیا د بلې دنیا په مقابل کې یوه انتهي دنیا ده. دا یو ډول د اتحاد، خپلمنځي نفي او اتحاد، او له خپل مخالف سره د مقابلې حالتونه دي. کاینات را ټولېږي او پراخېږي او همدا د نړۍ د پېښو اصلي ریښه ده.

## او د اصلاح جذبې چې په سیاسي ارادو بدلې شي

ابو علي محمد بن علي بن مقله (۳۲۸ – ۲۷۲ هـ) ډېر بې سارې هنرمند و. ده لرغونی عربي لیک (کوفي لیک) اصلاح کړ او ډېر ښکلی او جامع لیک یې تري ساز کړ. په لومړیو کې یې په شپږ دینارو میاشتني معاش په عباسي حکومت کې د کاتب دنده ترسره کوله. خو خپل فني کمال د خلیفه تر درباره ورساوه او په دربار کې یې دومره مقبولیت ومونده، چې شاوخوا د درېو پاچاهانو وزیر پاتې شو. لومړی د مقتدر بالله عباسي (۳۲۰ – ۲۸۲)، بیا د هغه د ورور قاهر بالله (۳۲۲-)، او بیا د راضي بالله (۳۲۹ – ۲۹۷). یاده دې وي، چې په پخوا زمانو کې «وزیر» د لومړي وزیر په معنا و، چې نن ورځ یې وزیر اعظم هم بولو، ځکه چې پاچا به یوازې یو وزیر درلوده، او ټول واک به یې د ده په لاس کې و. د مقتدر بالله په ابتدایي کلونو کې حامد بن عباس وزیر و؛ نو کله یې چې علي بن عیسی الجراح د حامد بن عباس د مرستیال په توګه وټاکه، نو خلک ډېر زیات حیرانه شول. په دې اړه د یوه شاعر د نظم یو بیت داسې و، چې

اعجب من کل ما رأینـا
ان وزیـــرین فی بـــلاد

ژباړه: ډېره عجیبه خبره چې تر دې دمه موږ لیدلې، دا ده، چې په یوه وطن کې دوه وزیران ټاکل شوي.

د ابن مقله دغو منصبونو د ده د فن په پرمختګ کې ډېره زیاته مرسته ورسره کولې شو. که ده له دې فرصتونو د لیکنې هنر او په دې پورې اړوند نورو برخو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمختګ او خپرنې لپاره ګټه اخیستې وای، نو نه یوازې عربې لیکدود به د خپل کمال هسکو ته رسېدلی و، بلکې و دې شي، چې د لیکنې او کتابونو په ډګر کې هغه اختراعات چې له ده وروسته وشول، د ده په زمانه کې لا رامنځته شوي وای. مثلاً کاغذ له ابن مقله نه اته سوه کاله پخوا په ۱۰۵م کې په چین کې اختراع شو. د کاغذ مخترع سائی لون و، چې د ابن مقله په خبر د چینايي امپراتورانو وزیر و. په روسي ترکستان کې د عربانو او چینایانو د جګړو په ترځ کې ځینې چینایان د مسلمانانو په لاس بندیان شول، دوی د کاغذ جوړونې په فن خبر و. مسلمانانو په سمرقند کې په دوی کاغذ جوړ کړ. تر دې وروسته په ۷۹۵م کې په بغداد کې د لاسي کاغذ صنعت رامنځته شو. خو د ماشین په مټ د کاغذ جوړونې پروسه لومړی ځل په ۱۷۵۰م کې په هالینډ کې پیل شوه. د رولونو په شکل کې د کاغذ جوړونې صنعت په ۱۸۹۸م کې په فرانسه کې پیل شو. دغه راز د چاپ صنعت لومړی ځل غالبا چینایانو په ۷۷۰ء کې ایجاد کړ. دا د ابن مقله (۹۴۰ – ۸۸۵م) له زوکړې شاوخوا ۱۱۵ کاله پخوا زمانه وه. د چاپ لرغوني نمونه له دې نه هم مخکې په پنځمه میلادي پېړۍ کې په چین کې موندل شوي وه. په اروپا کې پرمختللی چاپ په پنځلسمه میلادي پېړۍ کې ګوتن برګ ایجاد کړ او بایبل یې پرې چاپ کړ. خو په اسلامي نړۍ کې د چاپ صنعت د نپولین په لاس په ۱۷۹۸م کې لومړی ځل مصر کې راښکاره شو.

ابن مقله چې نه یوازې د لیکنې فن استاد و بلکې خورا هېښوونکی تخلیقي استعداد یې هم درلوده. که ده خپل الهي استعداد په خپل مسلک کې کارولی وای، نو کاغذ، چاپ او دې ورته نور نعمتونه چې اسلامي نړۍ ته ډېر وروسته په لاس ورغلل، ښايي د ابن مقله په زمانه کې یې لا موندلي وای. خو ده پر دې قناعت ونه کړ، چې ځان تر یوه ټاکلي ډګر پورې محدود کړي. ده کولی شوی، چې په وزارت کې لاسته ورغلي فرصتونه د لیک او کاغذ او چاپ په پرمختګ کې وکاروي. خو د دې ټولو برعکس ده دغه فرصتونه د خپل عزت او شهرت لپاره د زینې په توګه استعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل. ابن مقله چې کله د وزارت منصب ته ورسېده، نو له ده سره هم هغه پېښه وشوه، چې ډېر کم داسې خلک ځان ترې ژغورلی شي، چې حالاتو لوړ مقام ته رسولي وي. د ده فني جذبات په سیاسي ارادو بدل شول. د خاموشه اصلاحي کارونو په ځای د سیاسي او نظامي تحریکونو رهبري ور له غاړې شوه او دا پلان یې جوړ کړ، چې قاهر بالله له تخت نه را وپرځوي او ابو احمد بن مکتفي د عباسي سلطنت واکمن کړي.

دغه راز افشا شو او په ابن مقله تور پورې شو، چې ده د پوځ له مشر مونس خادم سره په ملګرتیا د قاهر بالله د حکومت د ختمولو توطیه ګډه کړې ده. د توطیې له افشا کېدو وروسته د ابن مقله کور ته اور واچول شو. ابو احمد بن مکتفی یې په دېواله کې خښ کړ. خو د ابن مقله خپله ځیرکتیا په کار راغله. ده په تېښتې خپل سر وژغوره او بیا یې پنځه سوه زره دیناره خلیفه ته ډالۍ کړل او بېرته یې وزارت ترلاسه کړ. خو د ده سیاسي ارادو بېرته د ده لپاره ستونزې را پورته کړې. تر دې چې راضي بالله له وزارت نه معزول کړ او په کور کې یې بندي کړ او ښی لاس یې هم ور پرې کړ. بې له شکه چې دا د یوه فن کار لپاره ډېره سخته سزا وه. ابن مقله به د کور په بند کې له ځان سره ګڼ اشعار زمزمه کول، یو شعر یې دا هم و،

**لیس بعد الیمین لذة عیش**

**یا حیاتي بانت یمینی فبینی**

ژباړه: له ښي لاس پرته د ژوند مزه نشته، اې زما ژونده! ښی لاس چې رانه بېل شو، نو ته هم رانه بېل شه.

د ابن مقله بې ساری استعداد له دې هم اټکل کولی شو، چې کله یې ښی لاس پرې شو، نو په کیڼ لاس یې د لیک تمرین پیل کړ. تر دې چې په کیڼ لاس یې هم هماغومره ښکلی لیک کولی شوی، چې په ښي لاس یې کولی شوی. بیا یې په خپل غوځ شوي لاس هم قلم وتاړه او لیکل به یې پرې کول. ویل کېږي، چې د لاس د غوڅېدو مخکې لیک او له غوڅېدو وروسته د لیک ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې هېڅ ځوک فرق نه شي په ګوته کولی. دغه باکماله انسان په ۵۶ کلنۍ کې په خپل کور کې زنداني له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې.

ابن مقله شاعر هم و. ده د خپل غوڅ شوي لاس په وير کې ډېر زيات شعرونه کښلي دي. دی وايي، هغه لاس چې د قرآن پلانی او پلانی نسخه يې ولیکله، چې د رسول الله ص پلانی او پلانی حديث يې وليکه، چې ختيځ او لويديځ ته يې احکام پرې واستول، هغه لاس د غلو د لاس غوندې غوڅ شو.

د ماضي ابن مقله تاريخ بښلی شي، خو د اوسني عصر «ابن مقله» چې خپل منصب د اصلاح او رغونې په هلو ځلو کې نه کاروي، بلکې په شعار ډوله ذاتي ارادو کې خپل ګرانبيه فرصتونه بربادوي، نو هغوی به د دې بوږنوونکې تېروتنې لپاره څه عذر ولري؟ آيا هغوی نه دي اورېدلي، چې د مؤمن په تعريف کې ويل شوي، چې مؤمن له يوه سوړې نه دوه ځلې نه چيچل کېږي.

## کاڼي شوې وني

له پانډيچري سيمې نه په ۱۳ ميله واټن کې يو ځای دی، چې تروو کاري نومېږي. دلته د پخوا زمانو د ونو د تنو غوندې کاڼي پراته دي. ځايي خلک په دې ګومان دي، چې دا د بلاګانو يا شيطاني موجوداتو هډوکي دي، چې ويشنو خدای هلاک کړي وو. خو په اوسني عصر کې کارپوهانو موندله چې دا په اصل کې فاسيلونه دي. ياني د پخوا زمانو کاڼي شوې ونې دي. يو تخمين دا دی، چې دا ونې ۲۰ ميليونه کاله پخوانۍ دي. دغه ډول فاسيلونه په نومبر ۱۹۷۵ء کې نوې دهلي ته راوړل شول او دلته په ملي ميوزيم کې عامي ننداري ته کېښودل شوو.

په پخوا زمانو کې به خلک کاڼي شويو ونو ته له نږدې کېدو ترهېدل، چې هسې نه شيطاني موجود يې ور ونيسي. مګر اوس يې خلک د طبيعي تاريخ د يوې صفحې په توګه ګوري او د هغو له مخې د ځمکې د لرغونو حالاتو اټکلونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مفتي محمد عبده**

## د ژوند لویه برخه یې د سیاست قرباني شوه، په وروستیو کې یې اصلاحي کارونه غوښتل، خو اوس یې د مرګ وخت را نږدې شوی و

مفتي محمد عبده (۱۹۰۵ – ۱۸۴۹) په خپل وخت کې د مصر ډېر مشهور عالم و. ده د اسلامي علومو په ټولو څانګو کې ډېره بې سارې پوهه لرله. له عربي او فارسي نه علاوه په څلوېښت کلنۍ کې یې فرانسوي ژبه هم زده کړه او ډېر ښه مهارت یې په‌کې ترلاسه کړ. عبده ټول ژوند د جمال الدین افغاني په کارونو کې د هغه ښی لاسی و او ستر شخصیتونه مثلاً ریاض پاشا (د مصر وزیر) سعد زاغلول (د مصر صدراعظم) له ده نه اغېزمن وو. له درې نیم کاله جلاوطنۍ وروسته چې په ۱۸۸۸م کې خدیو توفیق پاچا بېرته مصر ته د ورتلو اجازه ورکړه، نو پاشا ته د ده د سفارش کوونکو په ډله کې لارډ کرومر (۱۹۱۷ – ۱۸۴۱) هم شامل و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۸۸۰ کې عبده د مصر د حکومت د دولتي ورځپاڼې «الوقائع المصريه» مسوول مدير شو. د دې مسؤوليت په خوا کې ده ته دا ځانګړی صلاحيت هم ورکول شوی و، چې د حکومتي ادارو په کارونو هم تنقيد وکړي. تر دې پخوا دغه مجله يوازې د دولتي اطلاعاتو او د دولتي ادارو د اعلاناتو د خپراوي وسيله وه. د دولتي مطبوعاتو د لوړپوړي چارواکي په حيث د هبواد په ټولو ورځپاڼو د څار واک له ده سره و. په ۱۸۹۴م کې د الازهر پوهنتون د اصلاح لپاره د ډېر لوړ صلاحيت يوه کمېټه جوړه شوه، مفتي محمد عبده دلته هم د کمېټې د روحِ روان حيثيت درلود. په دې سربېره، د الازهر د نظام په بدلون کې هم د حکومت بشپړ ملاتړ ورسره و. دی په دې هم وتوانېده، چې د دغو اصلاحاتو لپاره له دولتي خزانې نه هر کال زر پاؤنډه مرسته هم په حکومت باندې منظور کړي. د الازهر د اوقافو په اصلاح کې دی تر دې بريده برياليی و، چې د دې ادارې کلنی عايد له څلور زره پاؤنډ نه شاوخوا ۱۵ زره پاؤنډ ته ورسېده. په ۱۸۹۹ کې چې دی د مصر مفتي وټاکل شو، نو د ده د شخصيت له امله دې منصب يو نوی اهميت وموندہ. تر دې پخوا د مفتي مقام د حکومت د قانوني مشاور په معنا و. بې له هغو چارو چې دولتي ادارو به يې د يوې مسئلې پوښتنه کوله يا به يې قانوني مشوره غوښتله، مفتي به په نورو هېڅ چارو کې هم لاس نه درلوده. خو عبده به عامو خلکو ته هم په شرعي امورو کې مشورې ورکولې. په دې سره هغه منصب چې پخوا يې هېڅ اهميت نه و، د ډېر اغېز او اقتدار وسيله شوه. تر دې چې د هغې زمانې له حاکمې فضا سره، سره مفتي محمد عبده ډېرې انقلابي فتواوې ورکړې. مثلاً دا چې د عيسويانو او يهودانو په لاس د حلال شويو ځارويو غوښه خوړل د مسلمانانو لپاره روا ده. دغه راز د پوسته خانو په سپما بانکونو کې د پيسو ساتلو او له هغو نه د سود اخيستو جواز او داسې نور. د مصر د شرعي محکمو (هغه محکمې چې د نکاح، طلاق، خلع او داسې نورو مسايلو په هکله شرعي پرېکړې کوي) د کار او فعاليتونو په اړه چې پلټنې وشوې، نو حکومت په دې برخه کې هم ټول واک ده ته وسپاره. په ۱۸۹۹ کې د قانون ساز مجلس د دايمي غړي په توګه وټاکل شو. د خپلې پياوړې ژبې او قانوني صلاحيت له امله يې ډېر ژر په ټول مجلس اغېز وښنده. د ده نظر به همېش په مجلس کې له ډېر زيات وزن نه برخمن و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفتي محمد عبده فطرتا د معتدل شخصيت سړی و. په ابتدايي کلونو کې د شيخ درویش په نوم يوه صوفي ته يې ډېر زيات عقيده درلوده. دې صوفي له شيخ سنوسي نه په طرابلس کې فيض اخيستی و. په دې زمانه کې به مفتي محمد عبده خپل ډېر وخت په صوفيانو فعاليتونو کې تېراوه. غټې جامې به يې اغوستې او عادي خواړه به يې خوړل. تل به ټيټې سترګې په لاره روان و او تر هغو به يې له چاسره خبرې نه کولې، چې ډېره شديده اړتيا به نه وه. د دې دوران خاطرې ده په خپل کتاب رسالات الواردات کې را ټولې کړې دي، چې په ۱۸۷۴ کې چاپ شوی.

په ۱۸٦۹ کې چې سيد جمال الدين افغاني قاهرې ته سفر وکړ، نو د ځو ځوانانو په ملتيا کې محمد عبده هم ليدو ته ورغی. جمال الدين افغاني ډېر اغېزناک سړی و. محمد عبده له ده ډېر زيات اغېزمن شو. د جرجي زيدان په وينا «محمد عبده د جمال الدين افغاني نارامه اروا په خپل ځان کې جذب کړه.» د دغه اغېز په پايله کې محمد عبده له تصوف او ادب نه سياست ته مخه کړه او د اعرابي پاشا د بغاوت په وخت کې يې فتوا ورکړه، چې له خديو سره بيعت فسخه کول روا دی. د دې فتوا له امله يې دی له مصر نه تبعيد کړ. د هغه د دې دوران د ليکنو مقصد د غيرملکي لاسوهنو په خلاف د ولس پارول و. ده د ازادي ترلاسی د ملي ژوند اساسي مقصد وګرځاوه او د جمهوريت او ازادي په ملاتړ کې يې جذباتي مقالې وليکلې. جمال الدين افغاني له مړيني وروسته د مفتي محمد عبده په افکارو کې کافي بدلون راغی او دا باور ورسره پيدا شو، چې هغه چارې چې زموږ په وس کې دي، په هماغو کې بايد خپل ځان مصروف کړو او هغه چارې چې زموږ وس پرې نه رسېږي، بايد خدای ته يې حواله کړو، مثلاً سياست چې انګرېزانو ته يې خورا ډېره مادي او نظامي برتري ورکړې ده؛ او په ځای يې خپلې ديني، اخلاقي او تعليمي اصلاح ته بايد توجه وکړو. خو د خپل پخواني مزاج له لاسه به يې اوس هم کله نا کله ليکنې او ويناوې په سياسي رنګ رنګېدلې وې. له دې امله به واکمني طبقې ته فرصت په لاس ورغی، چې د اوسمهال محمد عبده د ماضي د محمد عبده په رڼا کې وګوري او پر خلاف يې احتياطي ګامونه واخلي. د دې پايله دا شوه، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی لوی فرصتونه به د ده په لاس کې و، خو بیا به یې هم په مسلسل ډول یو کار تر اوږدې مودې نه شوی کولی.

مفتي محمد عبده ته پکار وه، چې الازهر پوهنتون یې د اسلامي نړۍ د اصلاح مرکز وګرځولی وای. خو په ۱۹۰۵م کې یې د الازهر پوهنتون اداري کمېټې ته استعفا ورکړه. او د خپلې اصلاحي اداري د بنسټ ایښودو فکر ورسره پیدا شو. په دې وخت کې د ده عمر ۵۵ کاله و. د مصر یوه لوی رئیس چې د ده له طرحې سره همغږې لرله، د خپلې څمکې یوه ښایسته برخه ده ته ورکړه او د دغې اداري په خاکه یې هم کار پیل کړ. خو په جولای ۱۹۰۵م کې محمد عبده له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه او د قرآن کریم د نیمګړي تفسیر په څېر یې د دغې اداري خوب هم نیمګړی پاتې شو.

د مفتي محمد عبده په ذهن کې یوه طرحه دا هم وه، چې یو مشترک شرکت جوړ کړي او په عربي ژبه د لوړ معیار ورځپاڼه راوباسي. د دې ورځپاڼې په اداري برخه کې مستعد کسان وګمارل شي او د هېواد د اصلاح په لاره کې په کار واچول شي. ده په خپل ذهن کې دغه ورځپاڼه یوه سوچه اصلاحي ورځپاڼه لیدله، چې له سیاسي خبرو سره به یې هېڅ ډول راشه درشه نه وي. خو د مرګ له لاسه یې دا هوډ هم پوره نه شو او د ژوند لویه برخه یې د سیاستونو قرباني شوه. او په پای کې یې چې پام شوو، او اصلاحي کارونه ته یې اراده وکړه، نو د مرګ وخت یې را رسېدلی و.

د مفتي محمد عبده پر مړینه ای جي براؤن په خپل پیغام کې ویلي و « په اوسنی زمانه کې د ده غوندې شخص نه په غرب کې وزېږېده او نه په شرق کې». جرجي زیدان د ده مقام په دې ټکو کې منلی و، چې «قومونه که هر څومره هم لرغوني وي، خو په تاریخ کې یې ډېر کم داسې اشخاص تر سترګو کېږي، چې د فعالیتونو ساحه یې دومره پراخه وي، څومره چې د محمد عبده د اصلاحي کارونو ساحه پراخه وه.» د دغسې شخصیت وروستی انجام چې څه ډول و، پر هغه د ده د یوه معاصر تبصره ډېره زیاته صدق کوي چې «محمد عبده د هغې ورځې له راتلو دمخه له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه، چې راتلو ته یې د ده نارامه فطرت تل سترګې په لار و.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په طرابلس کې وينا

طرابلس ته په خپل دوه مياشتني سفر (فروري او مارچ ۱۹۷٦ء) کې مې تعليم يافته طبقې ته په ګڼو ځايونو کې ويناوې وکړې. دلته به يې د يوې وينا لنډيز راوړم. دا وينا مې په ۲٦ مارچ کې کړې وه او زموږ لپاره هم د پند خبرې لري.

د طرابلس په ميوزيم کې يوه وزه ساتل شوې، چې دوه سرونه لري. دې وزې ته مې په اشارې سره وويل، که يوه کس دا وزه ليدلې وي او پوښتنه ترې وکړئ، چې په ميوزيم کې دې ډېر عجيب شی څه وليدل؟ نو شايد همدا ځواب درکړي، چې «دوه سره اوزه». خو زه وايم، چې په دې دنيا کې چې ما تر ټولو ډېر عجيب شی ليدلی، هغه دوه سري انسانان دي. د طرابلس په ميوزيم کې خو يوازې يوه وزه ده، چې دوه سرونه لري. خو ما په خپل ژوند کې چې څومره انسانان ليدلي، ټول يې دوه سرونه لري.

تاسو ښايي حيرانه شئ او ممکن وبه وايئ، چې دغه مولانا ته مو بايد د درېځ په ځای د سترګو د روغتون لاره ښودلې وای. خو تاسې يې چې هر څه ګڼئ. خو دا حقيقت دی، چې ما تر ننه پورې يو سری انسان نه دی ليدلی.

زما د خبرې مطلب څه دی. په يوه مثال کې به پرې پوه شئ.

تاسو يو بچی لرئ او غواړئ چې بچی مو بريالی ژوند ولري. نو تاسو څه کوئ؟ تاسو يې ښوونځي کې شاملوئ. کانکور چمتووالی ورته نيسئ او ساينسي مضامين پرې زده کوئ. بيا د طب پوهنځی پرې لولئ. او بيا تخصص پرې کوئ. بيا به هځه کوئ، چې فوق تخصص لپاره يې لندن يا امريکا ته واستوئ. له دې ټولو پړاوونو وروسته تاسو دا هيله کولی شئ، چې بچی به مو د ډاکټر په حيث په دنيا کې يو مقام

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګټې. له تاسو نه به یو هم داسې ونه وکړي، چې خپل ماشوم لوبو او ساتېرېو ته خوشې کړي او کله چې پنځه ویشت کلن شي، نو بیا د ډاکټر کېدو په اړه جذباتي تقریرونه ورته وکړي او یا حکومت ته خط واستوي، چې زما زوی په روغتون کې د عملیاتو د متخصص په توګه مقرر کړئ. او یا یې د «محرومې طبقې» په ډله کې حساب کړئ او له سند پرته یې د ډاکټر په حیث ومنئ. تاسو ټول ښه پوهېږئ، چې د ډاکټر کېدو لپاره مو بچی باید د تعلیم او ټرېنینګ دوره پوره کړي. یوازې په غوښتلو څوک نه ډاکټر کېږي. دا دنیا د حق د ترلاسي لپاره د هلو ځلو دنیا ده، د غوښتنو او ارمانونو دنیا نه ده.

خو همدا خبره چې هر کس یې د خپل شخصي ژوند په اړه مني، د قوم او ملت په برخه کې یې بیا سر نه پرې خلاصېږي. هر ځای چې یوه شخص د قوم درد احساس کړی او د اصلاح لپاره یې ملې ور بډ وهلي دي، نو سمدلاسه په ده کې یو بل سر هم ځان را ښکاره کړی، چې د فکر طرز یې بېخي بل ډول وي. په دې ځای کې هغه شخص د «چمتووالي» په ځای «غوښتل» د بریا راز ګڼي. د خیالي دښمن پر ضد جذباتي تقریرونه کول، خطونه او میمورنډمونه لېږل، د غوښتنو لایحې پرې تصویبول، نړیوالو سازمانونو ته د خپلې قضیې د وړلو طرحې جوړول، همدا یې د ټولو فعالیتونو خلاصه وي. همدا شخص چې د خپل بچي په اړه پوهېږي، چې بریا یوازې هله لاسته راځي، چې لومړی د هغې بریا لپاره وړتیا او استعداد پیدا شي، د ملت د بچي په هکله د خپلو فعالیتونو نقشه په داسې ډول سازوي، ګواکې پاروونکې وېناوې او غوښتنې د هرې بریا راز دی. دا بې ګټې هلې ځلې یې چې له ناکامۍ سره مخ شي، نو بیا یې هم مرال نه ټیټېږي. او همدغه شخص به د خپلو غوښتنو د ترلاسي لپاره یوه بله لاره ور خپله کړي او وایي به چې، «موږ په (محرومه طبقه) کې وشمېرئ او له وړتیا پرته موږ په ټولو منصبونو کېنوئ.» د داسې خلکو په هکله به له دې پرته څه وایو، چې دغه خلک دوه سرونه لري.

دغه مزاج د یوه خاص اسلامي قوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړنه نه ده، د هرې سیمې مسلمانان په همدې دوه ګوني ذهنیت کې مبتلا دي. فرق یې یوازې دا دی، چې د ځینو «دوهم سر» د یوه په ضد لګیا دی، او د ځینو بیا د بل په ضد.

بله د حیرانتیا خبره دا ده، چې دوی دغه ډول خلک بیا د خپلو رهبرانو په حیث هم مني او په ملي رهبر، ملي قهرمان، د ملت مجاهد، امام العالم او داسې نورو نومونو یې هم نازوي. ګواکې یوازې خواص نه، بلکې عام ولس هم دوه سري خلک دي. یو سر د شخصي ژوند لپاره، بل سر د ملي مسایلو لپاره. یو تن به هم ونه مومې، چې په یوه سر فکر وکړي. په داسې حالت کې که زه ووایم، چې ما په خپل ژوند کې چې څومره انسانان لیدلي دي، ټول دوه سري انسانان دي، نو په دې کې د حیرانتیا څه خبره ده؟

## د پند شیبې

حضرت حمید الدین ناګوري د طریقت شیخ هم و او په خوا کې یې عالم او محدث هم و. یو مرید ورته راغی او د طریقت د زدکړې هیله یې ترې وکړه. شیخ ناګوري ورته وفرمایل: «په دې ورځو کې زه د حدیثو په تدریس کې دومره بوخت یم، چې د طریقت د تدریس لپاره هېڅ وخت نه لرم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو درس له تاریخه

د پخوانی ترکیې دوه شخصیتونه له علمي او فکري پلوه ډېر روښانه مقام لري. یو نامق کمال (۱۸۸۸ – ۱۸۴۰) او بل ضیاء گوک الپ (۱۹۲۴ – ۱۸۷۵). دواړو لوړې زدکړې وکړې. دواړه په ترکي سربېره په عربي او فرانسوي ژبو هم پوهېدل. په نولسمه پېړۍ کې د اسلامي نړۍ د نورو لویو شخیصتونو په څېر دوی دواړه هم له سیاست نه اغېزمن وو. او سیاسي انقلاب یې د یوازني لوی کار په توگه لیده. خو په دواړو کې فرق دا و، چې نامق کمال نسبتاً د معتدل او منځلاري فکر سړی و. او سره له دې چې له عملي سیاستونو نه متاثر و، خو سوچ او فکر یې د اسلامي اصطلاحاتو له مخې رغېدلی و او د «ترک اتحاد» په ځای به یې د «اسلامي اتحاد» خبره کوله. بله دا وه، چې نامق کمال د ترکیې په نوي نسل کې ډېر زیات مقبولیت موندلی و. خالده ادیب خانم د ده په هکله لیکلي دي، چې «نامق کمال د نوې ترکیې ډېر محبوب شخصیت و او د ترکیې په فکري او سیاسي تاریخ کې له ده نه زیات بل یو شخصیت هم دومره نه دی لمانځل شوی.»

Halde Edib, Turkey Faces West, P.٨٤

خو بلې خوا ته ضیاء گوک الپ بیا ازاد خیاله انسان و او د ده په فکري نظام کې اسلام د بنیادي فکتور حیثیت نه درلوده. د ده خبره دا وه، چې د ترکیې ریفورم باید په سوچه قومي او مادي بنیادونو وشي. دی د اسلامي تمدن په ځای غربي تمدن ته ډېر لېواله و.

په را وروسته زمانه کې د ترکیې تاریخ راته وایي، چې په ترکیې کې د نامق کمال په څېر د خلکو افکارو غلبه ونه موندله. بلکې د ضیاء گوک الپ په څېر خلکو له عملي پلوه د هغې سیمې په سیاست او رهبرۍ منگولې خښې کړې. د دې یوه وړه وجه خو دا وه، چې ضیاء گوک الپ ته د خپلو افکارو د عملي کولو لپاره د کمال اتاترک (۱۹۲۴ – ۱۸۸۱) په څېر قوي او د پیاوړي هوډ سړی په گوتو ورغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه نیمه پېرۍ مخکې

د سرسید احمد خان «آثار الصنادید» کتاب لومړی ځل په ۱۸۴۷ء کې خپور شوی و. په دې کتاب کې سرسید د دهلي د جامع جومات په هکله یو ځای لیکلي دي:

د دې جومات شمالي دروازه د کله پاچو د بازار لور ته ده. دلته د کباب دوکانونه هم شته او د نورو توکو پلورونکي هم خپل دوکانونه لګوي. خو ډېره لویه ننداره د چشمبندو او نکلچیانو وي. د غرمې لور ته یو نکچلي خپل ځای ورته برابر کړي او د امیر حمزه داستان شروع کړي. بلي خواته بیا د حاتم طایي افسانه لګیا وي او چېرته بیا د بوستان د کیسو اوازونه وي. او لسګونه خلک یې اورېدو ته را غونډ شوي وي. یوې خوا ته چشمبند خپلې نخرې کوي او بلې خوا ته د کوډګرو لوبې رواني وي. او له سپین ږیري نه ځوان او له ځوان نه سپین ږیری جوړوي. (۲۷۸ مخ)

دا د نولسمې پېړۍ په منځنیو کلونو کې د دهلي د عامو مسلمانانو حال دی.

او د خواصو حال یې هماغسي و، چې بشار بن برد (مړ ۱٦۷هـ) د بنو امیه په هکله ویلي و، چې

ضـاعـت خلافـتـکم یـا قـوم فالتمسـوا
خلیفـــة الله بـــین الـــزق و العـــود

ژباړه: اې قومه! خلافت مو برباد شو.
اوس حـال دا دی، چـې کـه خپـل خلیفه لټوئ، نو د شرابـو او نځا پـه محفلونو کې به یې مومئ.»

(c) ketabton.com: The Digital Library




# یو سفر

د ۱۹ جنوري ۱۹۷٦ کال و. په نوې دهلي کې د لیبیا د سفارتخانې ویاند راته وویل، چې د لیبیا حکومت د «ندوة الحوار الاسلامي المسیحي (۱ - ۵ فروري ۱۹۷٦ء)» په سیمینار کې د ګډون بلنه راکړې ده. پر ۲۲ جنوري مې د لیبیا له سفیر ډاکټر رجب الزروق سره ولیدل. نوموړي د ویزې ټول اړین اسناد راته برابر کړل او نور رسمي کارونه هم چې پوره شول، نو په ۳۰ جنوري د ایرانډیا په الوتکه کې د کویت او روم په فضا له تېرېدو وروسته د طرابلس په هوایي میدان کې ښکته شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډول سفرونه تل زما لپاره د وحشت سبب ګرځي. د دهلي هوايي ډګر ته چې ننوتو، نو له هماغه ځايه مو د «صنعتي قفسونو» ژوند پيل شو. له هوايي ډګر نه الوتکي ته، له الوتکي نه موټر ته، له موټر نه هوټل ته، له هوټل نه د سيمينار خوني ته. لنډه دا چې د صنعتي تمدن د ښکلو قفسونو يوه ناپايله سلسله وه او موږ له يوه نه بل ته تري اوښتلو. د ماشيني معجزو، ساينسي رنګينيو او د تخنيکي پرمختګونو په هجوم کې پخپله انسان يو عبث وجود ګرځېدلی دی. که پرمختګ همدا وي، نو انسان ادا پرمختګ په ډېره لوړه بيه ترلاسه کړی دی. اوسمهال موږ د لمر له رڼا، تازه هوا او د طبيعت له چاپېريال نه بې برخي او په يوه مصنوعي ژوند کې ښکېل شوي يو. دا ژوند په سترګو ډېر ښکلی او رنګين ښکاري، خو زموږ له فطرت سره مطابقت نه لري. انسان چې کله په طبيعي ماحول کې ساه اخلي، نو خپل ځان ته هم نږدې وي او خپل خدای ته هم. خو د صنعتي تمدن په ماحول کې له دې دواړو شيانو لرې وي.

د مختلفو مذاهبو په ګډو ناستو کې مې تر دې پخوا هم ډېر ځله ګډون کړی دی. خو د طرابلس د سيمينار يو خصوصيت دا و، چې په دې سيمينار کې د نړۍ دوه لوی اديان په دې خاطر را ټول شوي وو، چې په خپلو منځونو کې مشترک بنيادونه ولټوي او د يوه مسيحي په قول «ماضي د اثارو ساتنې په اطاق کې خوندي کړي.» دا حقيقت دی، چې له دې ډول هڅو نه هماغه ډله ګټه اخيستلی شي، چې تر دې پخوا يې مثبتې هلې ځلې تنظيم کړې وي او له پخوا نه په منظم ډول په‌کې ښکېل وي. همدا وجه ده، چې ويتيکن په دې فرصت کې د ليبيا له حکومت نه اجازه ترلاسه کړې وه، چې په بن غازي کې خپله کليسا هم جوړه کړي. خو مسلمانانو له دې سيمينار نه دغه ډول ملموسه استفاده ونه شوه کړای.

د سيمينار اصلي مقصد په دواړو اديانوو کې د مشترک بنياد لټول و. يوه مسئله چې اوږدې خبرې پرې وشوې، دا وه چې د دين تصور څه شی دی؟ د مسلمانانو زور پر دې و، چې دين يو بشپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون دی او د ژوند ټول معاملات د دین په دایره کې شامل دي. مګر مسیحي لوري ویل، چې دین یو روحاني سیستم دی، او د یوه انګېزشي ځواک په حیث د انسان په اعمالو کې ونډه لري. خو د قوانینو او مقرراتو په بڼه خپل کوم جوړښت او ساختمان نه لري. ځینو خلکو په غونډه کې دې بحث ته ډېره هوا ورکړه، چې عیسویان د فلسطین او دې ته ورته نورو مسایلو په برخه کې په ښکاره د مسلمانانو ملاتړ ولې نه کوي.

ما په خپله وینا کې په دې ټکي ټینګار وکړ، چې دغه ډول ټول مسایل فرعي حیثیت لري. اصلي مسئله اسلام د یوه مستند دین په توګه منل ده، چې عیسویان تر دې دمه ترې انکاري دي. داسې عیسویان به هم په لوی شمېر کې وي، چې د محمد ص نبوت به د واقعیت په توګه په مني. خو د دوی دا منل یوازې په انفرادي ډول وي. کلیسا تر اوسه پورې هم دې خبرې ته غاړې نه ده ایښې. د لیبیا یوه پادري په خپله وینا کې اعلان وکړ، چې زه حضرت محمد د ربښتیني رسول په حیث منم. خو د ویتیکن استازي د پادري خبره رد کړه او ویې ویل، چې دا د ده خپل شخصي نظر دی. خو بیا یې وویل، چې ویتیکن یوه کمېټه په همدې مقصد جوړه کړې، چې په دې خبره غور وکړي، چې آیا موږ د حضرت محمد نبوت د یوه واقعیت په توګه منلی شو او که نه؟

ما په خپله مقاله کې د دې خبرې د وضاحت هڅه وکړه، چې هغه بنیادي نکته چې مسلمانان او عیسویان له یو بل نه پرې بېلېږي، هغه د «فارقلیط» د تعبیر اختلاف دی. د یوحنا انجیل په ښکاره ټکو کې وایي، چې حضرت مسیح له دې دنیا نه د تلو په وخت کې خپلو حواریانو ته ویلي و، چې له ما وروسته به خدای یو داډېښونکی (یا د ښو صفاتو) شخص را واستوي او تر تله به له تاسې سره وي. هغه به تاسو ته ټول حقیقت روښانه کړي، هغه به د دنیا سردار وي، او په هغو خبرو به مو هم خبر کړي، چې ما نه دي در ښودلي.

دا او دې ورته وړاندوینې له حضرت مسیح نه وروسته شخصیتونو په منځ کې په ډېر صراحت سره یوازې د اسلام د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر په هکله صدق کوي. خو مسیحیانو «ډاډ ببنونکی»، د روح القدس په حیث تعبیر کړ او ټول مفهوم یې سرچپه کړ. دوی وویل، چې دغه ډاډ ببنونکی په حضرت مسیح باندې ایمان لرونکي شخص ته د روح القدس په ډول راځي او بیا هغه حقایق ورته روښانوي، چې حضرت مسیح نه دي بیان کړي.

د دې تعبیر له لارې دوی هغو اضافي خبرو ته د حقانیت ورکولو جواز لټاوه، چې له حضرت مسیح نه وروسته عیسویانو په عیسویت کې وکړې. دوی کلیسا د حضرت مسیح دایمي او مستنده استازې ومنله او په دې ډول یې له هغو تلپاتې او ابدي حقایقو نه ځان محروم کړ، چې د حضرت محمد ص په لاس ځرګند شول. «فارقلیط» چې سم تعبیر کړو، نو محمدي نبوت ترې ثابتېږي، خو که یې ناسم تعبیر وکړو، نو د کلیسا مذهب ترې راوځي.

خو مسیحي لوري له دې لیدلوري نه ډېره کوله او هڅه یې کوله، چې له دې اختلافي بحث نه تېر شي او د اتفاق مشترک بنیادونه ولټوي.

د مسیحي اړخ ځینو ځیرکو کسانو د دې خبرې هڅه کوله، چې د مسیحیت هغه عقاید چې د اسلام له نظره د اختلاف وړ دي، هغه په داسې ډول تأویل شي، چې د منلو وړ وګرځي. مثلاً مسیح د خدای د زوی په حیث د منلو مسئله. یوه مسیحي استازي ډاکټر شولیکل وویل، چې مسیح د ابن الله په توګه د منلو مطلب دا دی، چې بشریت په خپل اعلی معیار کې ځان ښودلی دی. انسان د یوه بشر په حیث دې نړۍ ته راځي. خو د خپل لوړ کردار په مټ به ځان د خدای غوندې جوړوي او مسیح ته د ابن الله حیثیت ورکول د لوړترین بشري کمال تمثیل دی. خو دلته سمدستي سوال را پیدا کېږي، چې د مسیح ابن الله کېدل که په تمثیلي معنا وي، نو د دې معنا دا ده، چې هر انسان د خدای زوی کېدلی شي. او د دې تعبیر له مخې خو د کفارې د عقیدې لپاره هېڅ بنیاد نه پاتې کېږي. او د اوسني مسیحیت ټوله مانۍ پر همدې عقیدې ولاړه ده. په یوه لیدنه کې ما همدا پوښتنه د ډاکټر شولیکل مخې ته کېښوده، نو هغه وویل، چې دا نظر بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شکه چې د ویټیکن له دولتي عقیدې سره په ټکر کې دی، خو زموږ لپاره دلته فکري ازادي ده.

هغه یوازنۍ مسئله چې دواړه لوري پرې ډېر زیات یوه خوله وو، «په دواړو خواوو کې د ځوانانو د انحراف» مسئله وه. دا د اسلامي او عیسوي دواړو ټولنو مشترکه مسئله ده، چې ځوانه طبقه یې له مذهبي روایاتو کړه شوې او د الحاد په لور یې مخه کړې ده او دواړه خواوې په دې نظر وې، چې د دغې ربړې په مبارزه کې باید دواړه لوري په ګډه کار وکړي. خو په دې اړه یې کومه منظمه برنامه وړاندې نه کړه. یوه تن «بدء الحوار مع الملحدین» وړاندیز وکړ، یانې هغسې چې مسلمانان او عیسویان دلته سره ناست دي او له یو بل سره مکالمه کوي، همدغسې دې له ملحدینو سره هم مکالمې او ډیالوګ پیل شي. خو دا کومه طرحه یا برنامه ده. دغه ډول خبرې صرف د دې پخلې کوي، چې د ستونزې په درک کولو سربېره هم په دې هکله ډېر عمیق غور نه دی شوی.

د لیکوال تجربه دا ده، چې ۹۹ سلنه خلک د وخت او موضوع په حدودو کې د خبرو کولو په هنر نه پوهېږي. د طرابلس سیمینار هم له دې نه مستثناء نه و. زیاتره ویناوې او مقالې به بې ځایه اوږدې او له موضوع نه اخوا خبرې وې. یو کس به پاڅېد او ویل به یې «اني لا احب الاطالة علیکم» خو کله به یې چې په حاضرینو کې د خپلې وینا د اوږدوالي اثرات ولیدل، نو په اخره کې به یې معذرت وغوښته، چې «ایها الاخوة اشکرکم علی صبرکم.» بل به پاڅېده له موضوع نه اخوا په یوه خبره به یې اوږده وینا وکړه او بیا به یې په دې خبره د حاضرینو د مطمئن کولو هڅه کوله، چې «فما اظن انی قد ابتعدت من الموضوع. [یانې ګومان مې دی له موضوع اخوا به نه یم غربېدلی]». کوم کس به چې په لنډ وخت کې خپله وینا ختمه کړه، نو دا به دومره نادر کار و، چې د جلسې مشر به د مننې په خاطر ورته ویل «اشکر خاصة علی تقیدة بالوقت المحدد».

په یاد سیمینار کې مې له یوه الماني پادري نه عربي ژبې ته د بایبل د ژباړې هیله وکړه. په سبا ورځ پادري په ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



برجسته چاپ کې د ښکلې پښتنې عربي انجیل راته ډالۍ کړ. ما ورته وویل، چې آیا بشپړ بایبل هم په عربي ژبه کې شته؟ هغه وویل، ولې نه. دلته خو يې کومه نسخه نه لرو، البته تاسو خپل ادرس راکړئ، موږ به يې له جرمني نه در واستوو.

مسیحي مبشرین خپل سپېڅلی کتاب د نړۍ په ټولو ژبو کې په ټوله دنیا کې خپروي. کاش موږ هم قرآن کریم په هره ژبه کې په ټوله دنیا کې خپور کړای شو.

د فروري دریمه نېټه وه او د ماښام شپږ بجې وې. د طرابلس په مسرح التحریر کې تر شپېتو هیوادونو نه زیات شاوخوا پنځه سوه مسلمانان او عیسویان را ټول شوي وو. ناڅاپي غونډه ودرېده. خلکو دروازې ته ور منډې کړې. عکاسانو له درنو، درنو کامرو سره عکسونه واخیستل. معلومه شوه، چې د لیبیا ولسمشر کرنل معمر قذافي راغلی دی. ولسمشر ناڅاپي راغلی و. خلکو هڅه وکړه، چې دریځ ته يې را پورته کړي. خو دی له عامو خلکو سره په یوه تشه څوکۍ باندې کېناست او په ډېرې خاموشۍ سره يې غونډې ته غوږ ونیوه.

په اندام وچ سړی، لوڅ سر، د تور رنګ عادي کوټ او پتلون، چې نیکټايي يې نه لرله، له هر ډول نظامي نښانونو پرته د عادي کس غونډې په څوکۍ کې غلی ناست و.

غونډه په خپل حال روانه وه. په وقفه کې د شاوخوا خلکو چې ټینګار پرې وکړ، نو بیا دریځ ته پورته شو. هلته يې هم کومه ځانګړې څوکۍ ونه نیوله، بلکې په یوه عادي څوکۍ کېنوست. د غونډې په جریان کې يې درې ځلې د خلکو په غوښتنه وینا وکړه. درې واړه ویناوې يې په سادو الفاظو کې، له مقدمې او اضافي خبرو پرته پیل او ناڅاپي ختمې کړې. مسیحي لوري د مذهب روحاني تصور وړاندې کړی و او ویلي يې و، چې مذهب باید په حکومتي او نورو چاور کې مداخله ونه وکړي. د مذهب اصلي مقصد دا دی، چې د انګېزشي ځواک په حیث ټول فعالیتونه متحرک کړي. ولسمشر قذافي د دې خبرې په ځواب کې په خپله وینا کې وویل، چې په ویټیکن کې خو د عیسویانو حکومت دی. نو هغه څنګه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سیمینار وروسته په طرابلس کې دوه میاشتې پاتې شوم. له ډېرو خلکو سره مې ملاقاتونه وکړل. په ډېرو غونډو کې د وینا فرصت راکول شو. دا ټول په بل ځای کې تفصیلي خبرې غواړي. په شپږ فروري مې له معمر قذافي (د لیبیا جمهوریت له ولسمشر) سره هم ولیدل. قذافي سمدستي راته وویل، «ما ستاسې کتاب «مذهب او معاصرې ننګونې» کتاب لوستی دی.» په عربي ژبه کې دا کتاب د «الاسلام لا یتحدی» په نوم له لس ځله نه هم ډېر چاپ او په ټوله عربي نړۍ کې خپور شوی دی. قذافي یاد کتاب ډېر ستر اثر یاد کړ. د ملاقات په اوږدو کې ولسمشر قذافي خپل یوه ملګري ته د لیکوال د معرفت په توګه وویل: «هو مفکر و مؤلف کبیر و نحن نقدره».

ولسمشر قذافي ډېر ساده انسان دی. په سترګو چې ورته ګورې، نو د هېڅ لویوالي تصور نه درته دربرې. ما له ځان سره فکر کاوه، چې آیا همدا هغه سړی دی، چې د لیبیا واکمن دی او د پټرو ډالرو خزاني یې تر لاس لاندې دي.» په دې معمولي سړي کې کومه داسې خبره

ده، چې دی یې اوسني مقام ته رسولی دی؟ او بیا مې زړه ځواب را کړ، چې «خطر ته د غاړې ورکولو وړتیا».

د سپتمبر پر لومړۍ نېټه ۱۹۶۹م کال چې د قار یونس له پوځي ډلګۍ نه دې معمولي قومندان او ملګرو یې بن غازي ته حرکت را وکړ، نو هره شېبه د دوی لپاره د مرګ شېبه وه. پخوانی پاچا شاه ادریس په دې وخت کې په ترکیه کې و، خو امنیتي ځواکونو یې چې تر الوتکو پورې مجهز وو، هر ډول اقدام کولی شوی. خو دوی له خپل سر نه تېر شول او په راډیویي تمځای یې ولکه وکړه او ناڅاپه یې اعلان وکړ، «ستاسو وسله والو ځواکونو په بنیادګر، تېریګر او خاین حکومت قبضه وکړه، له نن نه وروسته به لیبیا ازاد او خپلواک وي او نوم به یې «جمهوریة عربیة لیبیا» وي.

د دې سیمینار ډېره اغېزناکه برخه یې وروستۍ شېبې وې. په دې برخه کې دواړو خواوو ډېر د خیرخواهي جذبات له ځانه وښودل. مسلمان استازي وویل:
«اذا مشیتم الینا میلا مشینا الیکم میلین، و اذا اتیتم الینا مصافحین هرو لنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اليكم معانقين»** مسلمان استازي د رواداري په اهميت کې وويل، «نحن بما عندنا و انتم بما عندکم رای» د مسيحي استازو رويه هم ډېره دوستانه وه. يوه مسلمان استازي په خپله وينا کې وويل، چې له پلاني مسيحي استازي سره خو مې د خبرو په جريان کې په سترګو کې اوښکې راغلې. بيا يې دغه آيت وويل «ولتجدن اقربهم مودة للذين آمنو...(مائده ۸۳ – ۸۲)» د دې په خوا کې مو دا هم وليدل، چې له ويناوو سره به د لاسونو د پړکا اوازونه هم و. خو کله چې يوه مسلمان استازي وويل «موږ ګواهي ورکوو، چې عيسی کلمة الله د ټولو انسانانو لپاره د خدای پيغمبر و. همدا رنګه محمد ص د ټولو انسانانو لپاره د خدای پيغمبر دی.» نو مسلمانانو تر ډېره پورې لاسونه وپړکول، خو په مسيحي څوکيو کې ژوره چوپتيا خوره وه.

د شپږ فروري په ماښام سيمينار د انجيل او قرآن په تلاوت پای ته ورسېده. دواړه تلاوتونه يوه عيسوي عالم وکړل. لومړی يې د انجيل (متی ۲۵ باب) په عربي کې ولوست. عالم ډېره خوږه حنجره لرله او په سوچه عربي لهجه کې يې تلاوت وکړ. بيا يې پخپله همدې پادري د قرآن (د سوره بقره وروستي آيتونه او د سوره علق څو آيتونه) تلاوت کړل. دواړه تلاوتونه يې د تجويد او قرآت له ټولو قواعدو سره سم وکړل. قرآن يې په بسم الله الرحمن الرحيم پيل کړ او په پای کې يې صدق الله العظيم وويل.

اصل انجيل بې له شکه خدايي کتاب و. خو اوسنی عربي تجربه يې ښکاره ده، چې د انسان په لاس ليکل شوې. د دې برعکس د قرآن ژبه الهامي ژبه ده. د دواړو کتابونو يوه يوه برخه چې يو ځای ولوستل شوه، نو ګواکې يو خاموش اعلان و، چې ويل يې قرآن خدايي کلام دی او انجيل انساني کلام. د انجيل قرآت په ټولو کوششونو سربېره هم کوم طلسم ايجاد نه شو کړای. خو قرآن په هيښوونکي ډول د عظيم کتاب په څېر په ټوله خونه کې انګازې کولې او يوازې اورېدل يې هم د دې خبرې سپيناوي ته کافي و، چې دا يو ډېر لوړ خدايي کلام دی، نه کومه بشري وينا.

*امر يې کړی و، چې د ده په وړاندې*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*به څوک د مرگ نوم نه اخلي.* خو په *شپېته کلنۍ کې پوه شو، چې هېڅ څوک هم مرگ ته ماتې نه شي ورکولی*

د اسپانيې ديکتاتور فرينکو له څو ورځې ناروغۍ وروسته بلاخره له دې نړۍ نه سترگې پټې کړې. اوس دغه ډول دوه رهبران پاتې دي. يو د يوگوسلاويه مارشل ټيټو او بل د چين ماؤسی تنگ. د دواړو عمر له ۸۰ کلنۍ اوښتی دی.

د دې لپاره چې د فرينکو د ژوند موده وغځوي، د اسپانيې ډاکټرانو شپه ورځ خورا ډېرې هڅې وکړې او له دې ځايه په طبي حلقو کې ډېر تود بحث را پورته شو، چې هغه مهال چې د طبيعي قوانينو له مخې د ده ټول حواس له کاره لوېدلي وو، نو آيا څو اوونۍ دمخه يې لا بايد د مرگ غېږې ته سپارلی وای؟ آيا د ډاکټرانو دا کار سم و، چې د طبي مرستو په مټ يې د يو څه وخت لپاره او له جسماني پلوه د ژوندي ساتلو لپاره د فرينکو د حرارت درجه يو څه منجمده کړې وای؟ بله دا چې آيا دا خبره له اخلاقي پلوه پر ځای ده، چې د يوه قوم د رهبر د ژوند موده په مصنوعي ډول وغځول شي او يا غځول کېدلی شي؟ په دې چې دا ډول هڅه په دنيا کې د ډېرو جنجالي بحثونو باعث گرځېدلی شي. ډېرو علماوو پر دې موضوع بحث کړی دی.

يوه ډېره تصادفي پېښه دا ده، چې په دې مسئله په همدې وروستيو وختونو کې يو کتاب هم چاپ شو. د دې کتاب ليکلو ديارلس کاله وخت نيولی دی. مشهور تاريخپوه مري کينډال دا کتاب په فرانسه کې د يوولسم لويي په هکله ليکلی، چې په مړينه يې پنځه سوه کاله تېر شوي دي. لويي هغه پاچا و، چې مرگ يې نه غوښته او ډېره زياته هڅه يې وکړه، چې د ژوند موده يې وغځېږي.

د ماؤ، ټيټو او فرينکو په څېر لويي پاچا د يوه داسې قوم په جوړونه کې لوی لاس درلوده، چې مرکزي حکومت يې ډېر زيات پياوړی و. او د ده له مړينې وروسته يې قوم د انتشار او کورنيو جگړو په برخليک اخته کېدلی شوی. لويي په دې خبره ډېر ښه پوهېده، هغسې چې زموږ د زماني رهبران پوهېږي او د ورته مسايلو لپاره حل لارې هم ورته وي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اته پنځوس کلنۍ کې په لويي د فلج حمله راغله. اوس دی پوه شو، چې تر ډېره پورې به خپله ساه ونه شي ساتلی. په دې چې د ده په کورنۍ کې يوه پاچا هم خپله شپېتمه کليزه نه وه نمانځلې.

لويي په يوه خوندي کلا کې په امن او سکون سره استوګنه پيل کړه. ده يوې مانۍ ته پناه يووړه او دلته يې ډېرو کمو خلکو ته د ورتلو اجازه ورکوله. له مانۍ ته ورغلو لارو نه يې تارونه را تاو کړل او د مانۍ شاوخوا ته يې خندقونه وکيندل.

ځلوېښت غشي ويشتونکي به په ډېرينو دېوالونو ناست و، څوکيداري به يې کوله او امر ورته شوی و، چې هر څوک له اجازې پرته مانۍ ته د ننوتلو جرأت وکړي، نو له منځه دې يې يوسي. په دې سربېره څلور سوه اس سپرو به شپه او ورځ په سيمه کې ګزمه کوله. د مانۍ دننه لويي په ډېر عيش او عشرت سره خپل ژوند تېراوه. په خونه کې يې ښکلي انځورونه را ځوړند و. تکړه هنرمندو به په خپلو سندرو د ده زړه خوشاله ساته. په لويو لويو قفسونو کې ساتلي سپي او مرغان يې ډېر زيات خوښ و. ډېرې وختونه به يې خپل ځان ور تول کړی او په څوکۍ کې به په ډېر خوار حالت کې پروت و، مخې ته يې ښکلی باغ و او د خپلې مانۍ له بام نه به يې د دې باغ ننداري کولې.

سره له دې چې دی له جسماني پلوه کمزوری شوی و، خو د خپل قوم ژوند او مرګ د ده په لاس کې و. دی به په دې فکرونو کې و، چې خپل ولس څرنګه په دې پوه کړي، چې دی تر ټولو ستر واکمن دی. د ده لويه انديښنه دا وه، چې د واک په هوس کې يې کوم امير يا درباري را ونه پرځوي او اقتدار ترې ونه نيسي او خپلې وروستۍ ورځې د يوه لېوني بوډا غوندې پرې تېرې نه شي.

په خپله زړبودي کې لويي هر کس ته د شک په سترګه کتل. په خپلو پخوانيو نوکرانو هم شکمن شو، ټول يې لرې کړل او په ځای يې غيرملکي نوکران وګمارل. او بيا يې دوی او هغه قومندانان هم تل بدلول را بدلول چې د خپلې ساتنې لپاره يې ګمارلي وو. ده به هغوی ته ويل، چې «د واک او اقتدار تغيير ډېر زيات خوښېږي.» دی نور د دولتي چارو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر زيات زوږ و. او دا فکر به ورسره و، چې ممکن له ولس به نه يي دا خبره هېره شي، چې دی تر اوسه پورې ژوندی دی. د ده هممهالي مؤرخ ليکلي دي، چې «لويي د دې لپاره چې ځان واکمن وښيي، له هري لارې نه استفاده کوله. افسران به يې له دندی ګوښه کول، د هغوی په ځای به يې نوي افسران ټاکل. د چا به يې تنخوا ور کمه کړه او د چا به يې ور زياته کړه. او خپل ټول وخت به يي د افسرانو په ټاکلو او د هغوی د دبدبې په کمولو کې تېراوه.»

خو پر دې ټولو کارونو يې هم بسنه نه کوله. يوولسم لويي ډېر لوی ښکاري و او له حيواناتو سره يې ژوره علاقه وه. ده د اسونو او سپيو لپاره ټولې اروپا ته خپل استازي استولي وو او د بازار له نرخ نه يې هم په لوړ نرخ اخيستل، او په دې دول يې د ايټاليې، سويډن او جرمني اسونه او سپي خپل دربار ته راوړي وو. کله به چې دغه حيواناتو ماڼۍ ته را ورسېدل، نو خپلې روغتيايي کمزورۍ به د دې اجازه نه ورکوله، چې ننداره يې وکړي. يا هغه خلک چې دغه حيوانات به يې راوړي وو، له هغو سره خبرې اترې وکړي. خو دی پوهېده، چې په ټوله اروپا کې يې د دغې خريدارۍ په اړه مجلسونه تاوده دي او دا په دې معنا وه، چې دی لا هم ژوندی دی.

د خپلې روغتيا ښې ساتلو ته لويي دومره ارمانجن و، چې امر يې کړی و، چې د ده په مخکې به څوک د مرګ نوم نه اخلي. د ده شخصي طبيب د ده لپاره د نوکر غوندې کار کاوه او د پاچا ډېر زيات خوښ و. دې طبيب ته به يې د مياشتې لس زره طلايي کراؤن ورکول. په دې وخت کې د جګړې په ډګر کې يوه پوځي افسر په خلوېښتو کلونو کې هم دومره پيسې نه شوی ګټلی. که کوم کس د ده د ژوند موده د يوې ورځې لپاره هم غځولی شوی، نو دی دې ته هم اماده و، چې خپله ټوله خزانه ترې قربان کړي. په ۲۳ جولای ۱۴۸۳ء کې چې د ده شپيتمه کليزه رانږدې شوې وه، دی لا ډېر انديښمن و. دا مهال دی دومره کمزوری شوی و، چې په ډېرې سختۍ سره به يې خپله مرۍ خولې ته پورته کولی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ یې په سر کې فکر ور تاو شو. زرګونه طلایي سکې یې د جرمني، روم، نیپلز کلیساوو او مذهبي مشرانو ته ور ووېشلې. بیا یې درې لویې کښتۍ خپلو بهترینو کپتانانو ته ورکړې او یوې جزیرې ته یې واستول، چې د ده لپاره لوی لوی کیشپونه راونیسي. ده ته چا ویلي و، چې دغه بحري کیشپونه یو ډول ژوند بښونکي خواص لري.

د ده په یاد و، چې د فرانسې پاچاهانو ته د تاجپوشي په وخت کې د یو ډول کریمو نښان په تندي ور لګوي. دا متل و، چې دغه کریم په ۴۹۶ء کې د پخوا زماني یوه پاچا ته کوترې ورکړې و. او دغه کوتره د پاچا له مرګ نه څو ورځې مخکې د ده طلایي پنجرې ته را رسېدلې وه. لویي له ټولو ممکنه مذهبي لاروهڅه وکړه، چې تر ډېره پورې ژوند وکولی شي. بلاخره د نیپلز له یوې سیمې نه یې یو جوګي په دې هیله مانۍ ته را وغوښته، چې د ده دعا او عبادتونه به ګټه ورته ورسوي. خو د جوګي ټولو هڅو هېڅ ګټه هم ونه کړه. مګر لویي د دې لپاره چې هغه جوګي له ځان سره وساتي، دومره ارمانجن و، چې د خپلې خزانې وزیرته یې امر کړی و، چې د دې جوګي لپاره په مالتیو رانیولو کې که د هېواد ټوله خزانه هم لګېږي، بیا دې هم ترې نه دریغوي.

په لویي یو ځل بیا د فلج حمله راغله او په ۳۰ اګست یې له دې دنیا نه کډه وکړه. په وروستیو شېبو کې د ده له خولې بیا هم همدا خبره ووتله، چې «زه خو دومره ناروغ نه یم، څومره چې خلکو فکر کړی.»

د فرانسوي ولس په حافظو کې به دا خبره تر دې دمه ژوندۍ پاتې وي، چې په اپریل ۱۹۷۴ء کې چې کله ولسمشر جارجز پومپیډو د سرطان له ناروغۍ نه دې نړۍ سره مخه ښه کوله، نو هغه هم په خپله وروستۍ وینا کې یې ویلي و، چې «زه خو دومره ناروغ نه یم، څومره چې خلکو فکر کړی.»

او څو ورځې وروسته یې له نړۍ نه سترګې پټې کړې. بلاخره یوولسم لویي هم پوه شو چې هېڅ څوک هم مرګ ته ماتې نه شي ورکولی. (ماخوذ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شهاب ثاقب

پر ۱۳ نومبر ۱۸۳۳ کال کې د شمالي امریکا په ختیځه سیمه کې خلکو ولیدل، چې له نیمې شپې نه تر سهاره پورې شهاب ثاقب را وریدل. د دغو ستورو شمېر شاوخوا دوه لکه اټکل شوی و. په سترګو خو دغه ډول مشاهده ډېره نادره خبره ده، مګر د دوربینونو په مټ داسې ښکاري، چې له دې نه د لویو ستورو باران هم زموږ پر ځمکه وربږي. د یوه اټکل له مخې هره ورځ شاوخوا یو تریلیون ستوري له اسمانه را خوشي کېږي، چې شاوخوا دوه کروړه د ځمکې فضا ته را ننوځي. د دغو ستورو سرعت د توپک له مرمۍ نه سلګونه چنده ډېر وي. یانې شاوخوا په یوه ثانیه کې ۲٦ میله په سرعت سره حرکت کوي او کله نا کله یې سرعت په ثانیه کې ۵۰ میلو ته هم رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځمکې شاوخوا د هوا یو پوړ د پوښ په شکل له تولې نړۍ نه را چاپېر دی. د دې پوښ ابتدايي لوړتیا شاوخوا شپږ میله ده. د دې غلاف له امله شهاب ثاقب ستوري زموږ ځمکې ته نه شي را رسېدلی. بلکې د هوا له پاسنۍ سطحې سره تصادم کوي او له دې سطحې سره د سولېدلو له امله دومره تودوخه تولیدوي، چې شهاب ثاقب هماغته په فضا کې اور اخلي او له منځه ځي. همدغه د سوځېدو رڼا ده، چې موږ یې د ماتو ستورو په شکل وینو. د همدغه تصادم له امله شهاب ثاقب ذره ذره کېږي او په هوا کې خپرېږي. که د هوا دغه غلاف نه وای، نو شهاب ثاقب به په ډېر شدت سره په ځمکه غورځېدلی او موږ به ورته لاس تر زنې ناست و او هېڅ به مو هم نه شو کولی. او له تولې ځمکې نه به یې د اورو غلبیل جوړ کړی و. د سپوږمۍ په سطحه باندې چې ډېر زیات غارونه لیدل کېږي، ویل کېږي، چې دا د همدغسې شهابي ستورو د بمبارد له امله رامنځته شوي دي.

د ځمکې په خوا راتلونکي ځینې شهابي ستوري داسې هم دي، چې حجم یې ډېر لوی دی او له همدې امله سوځېدلی نه شي او په ځمکه غورځېږي. دا چې د ځمکې درې برخې اوبه دي او د وچې ځمکې ډېره برخه ځنګلونه او بیابانونه دي او له انسانانو نه خالي دي. نو دغه احتمالي شهابي ستوري یا خو په سمندرونو کې لوېږي او یا له ښارونه نه ډېر لرې په ځنګلونو او دښتو کې غورځېږي. دا چې د نړۍ په مختلفو برخو کې داسې لوی کاڼي موندل شوي دي، چې په غارونو کې پراته وو، نو فکر کېږي، چې دا کاڼي له اسمانه را ورېدلي دي. په دې شهابي کاڼو کې یو په میرې زونا کې هم لیدل شوی، چې وزن یې ٦٣٥ پونډه دی. دا کاڼی چې په ځمکه غورځېدلی، نو یوولس فټه په ځمکه کې ښخ شوی. دغه راز په دې ځای کې د شپږ دېرش نیم ټنه یوه اوسپنیزه توده هم موندل شوې. دغه توده هم همدغه ډول له اسمانه راغورځېدلې ماده ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بلاغت څه دی؟

عبدالله بن المقفع (۱۴۲ – ۱۰۶هـ) د خپلې زمانې ډېر لوی ادیب و. په فارسي او عربي دواړو ژبو کې یې بې ساری لاس درلود. ده د بلاغت په تعریف کې ویلي و، چې«بلاغت دا دی، چې که ناپوه یې واوري، نو گمان ورشي، چې دغه ډول ښکلی لیک خو زه هم کولی شم.»

## سوال او ځواب

سوال: ځیني خلک وایي، چې د مسلمانانو لویه مسئله د کلتوري تحفظ مسئله ده. په دې اړه ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: د کلتوري خوندیتوب خبره چې کوم خلک کوي، لویه تېروتنه کوي. حقیقت دا دی، چې مسلمانان خپل ببل کلچر نه لري، چې ساتنې ته اړتیا ولري. هغه شی چې باید ساتنه یې وشي، هغه دین او اخلاق دی، نه کلچر.

دغه ډول خبرې له دې امله را پورته کېږي، چې خلکو د مسلمان اصلي حیثیت هېر کړی دی. د مسلمان اصلي حیثیت د داعي او پیغام رسوونکي دی. د داعي مقصد د دې تقاضا کوي، چې له خپل مدعو سره کلتوري یو رنگي ولري، نه کلتوري بېلوالی. کلچر د جامو، ژبې او کړو وړو مجموعې ته ویل کېږي. که په دې برخه کې داعي او مدعو له یو بله فرق ولري، نو په دواړو کې مینه او نږدېکت نه پیدا کېږي او چې مینه او نږدېکت نه وي، نو اورېدونکی به نه د ویناوال خبرو ته غوږ ونیسي او نه به پرې غور وکړي.

د داعي او مدعو د دې نازکې اړیکې له امله به پیغمبران له هغه قوم نه ټاکل کېدل، چاته به یې چې بلنه ورکوله. پیغمبر به په هماغه ژبه خبرې کولې، چې د مدعو قوم ژبه به وه. تر دې چې ځینو خلکو غوښتنه وکړه، چې پیغمبر باید پرښته وي، نو الله تعالی وفرمایل، چې که موږ پرښته هم در استوو، نو هغه به هم ستاسو غوندې د انسان په بڼه در لېږو او پیغمبر به هم هماغه جامې اغوندي، چې تاسو یې اغوندئ. (انعام سوره –۹)

د اسلام په ابتدايي زمانه کې د مسلمانانو کلچر هماغه و، چې د نامسلمانانو و. د هغوی په منځ کې فرق او اختلاف د عقیدې او عمل له مخې وو، نه په معاصره اصطلاح کې مازې د کلچر له مخې. پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**